کابل
2 - APR 19
Copy 1957
Jan. 20, 1957
کتبه (٤٢٥
دژمی شگوفه

دشیداله دیوانه

ښه بیتونه

چه له ښاخ سره وفا کا په سره اور کښی لا تر گله یم مین د گل په خار زه

ستر گه نه سوزی د خس له نا کسانو که همه لکه ایرې آتش نسب وی

سیاه روی په لږ رفعت لکه دود مشه دافتاب غوندی کړه مخ په رخشانۍ کښی

د تنور شعله به آب د فوارې شی سرد جوشی که ورته یاده دایام کړې

د دوران سرد جوشی هسې تقاضا کا چه په اور کښی دا نه سبزه شی دسپاندې

زمانه دشیدا هسې ځان ځانی شوه چه بلا کناره درومی له ایوبه

چه په ورځ لکه فلك شمع سوزی کا درسته شپه ئې تیاره نه درومی له کوره

د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته نږدم بار لکه شبنم په دوش د گلو

څه امید د انتفاع کوی له مصره شیدا نلری یوسف کا روان د تا

که قیمت ئی زمانه ږدی څو در همه ته یوسف څنگه په کمه بها پلورې

د ذرې په احوال تل د لمر نظر وی لوی به نه گورې واړه په ستر گه سپکه

(۲۶) کال (۲۲) کبه

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر : گل پاچا الفت

مسئول مدیر محمد دین ژواک

پته د محمد جانخان واټ د پخوانی د لیک اصول د ښوونځی ترڅنګه

د تیلفون لمبر (. . .)

ددې ګڼې لیکنې اولیکوال

د ۱۳۳۵ هـ کال د ډلوی (۱) د ۱۳۷۶ ق کال د جمادی الثانی (۱۸) د ۱۹۵۷ ع کال د جنووری (۲۰)

ګڼه		مخ
۱ - ښاغلی خان محمد ایوب خان	افراط تفریط اعتدال	(۱)
۲ - ښاغلی غلام سرور رحیمی	د غرب تمدن	(۹)
۳ - ښاغلی عبدالحق واله	زما تشه دنیا	(۱۲)
۴ - محمد دین ژواك	لوبی کوم په ما	(۱۳)
۵ - ښاغلی عبدالله بختانی	ستر کی	(۱٤)
۶ - ښاغلی محمد علی لونګین	د دیدن غلا	(۱۵)
۷ - ښاغلی عبدالقدوس پرهیز	ستاله ستر کو	(۱۵)
۸ - ښاغلی رشاد قندهاری	د غریب ز کندن	(۱۶)
۹ - ښاغلی کل پاچا الفت	افغانستان	
۱۰ - ښاغلی سپین ثمان	د روښانیانو مجاهدی	(۲۲)
۱۱ د ښاغلی عزیز الرحمن سیفی ترجمه	د خان عبدالصمد خان محکمه	۳۰
کتاب مدون اولیکونکی	محمد دین ژواك	

لیکونکی:
ښاغلی خان محمد ایوب خان

افراط، تفریط اعتدال

اسلم او اکرم دوه دوستان ومگر دخپل فطرت په لحاظ بالکل یو د بل ضد واقع شوی وو لیکن د تعلیم په زمانه کښی چه تقریباً اته کاله و، دواړه داسی په اتفاق او اتحاد او داسی په یکرنگۍ او یك جهتۍ و او سیدل چه اکثر اوقات به دوی پخپله متعجب شول چه داڅه خبره ده ـ په دی کښی شك نهؤ چه اسلم د خپلو تمامو نفاست پسند یو او نزاکت مأ بیو باوجود دخپلو خیالاتو او جذباتو یو مرئی تصویرؤ مگر متاسفانه هغه پخپله مقالاً شاعر نهؤ ـ چه ټول هغه کیفیات ئی ظاهر کړی وای چه هر څه چه دې دنیا کښی ظاهر او ښکاری هغه ټول صنعت او سطحیات دی چه د حقیقت او عمق څخه یکسر لیرې ـ.

بدبختانه دده دست اکرم چه په واقعیت تر ډیره حده اگاهؤ دومری بی حسه ـ خشك او عملی انسان و چه په دماغ کښی ئی گاهی داخبره ځایېدله هم نه چه شعریت وائی وڅه ته ـ هغه د دنیا هره معامله ددوو ـ دروڅلو رو نظریو په رڼا کښی تمثیلوله ـ تر دغه حده ئی په پخپلو اصولو او نظریاتو کښی انهماك او شغف درلود چه دهغه په نزد حادثې او اتفاق هم هیڅ حقیقت نه درلود دشپی چه به کوم وخت اسلم دخپلو شاعرانه لطافت بیانیو او فسون زائیو پر بنا دستر گو اقسام شمیرل او دهر قسم د کیفیتونو به ئی جلا جلا ذکر کاوه نو اکرم به پوښتنه کوله چه ای اسلمه! ته چه دستر گو کوم ذهنی او فرضی تقسیم کوی او ځینو ستر گو ته شهلا او ځینو ته مخموری، ځینو ته مړامی او دغه ډول خدای خبر څه څه وائی ماته فقط دغه قدر ووایه چه دغه ټول قسمونه یو ډول کتل کوی که نه ـ که ددوی په بینایۍ کښی څه فرق نه وی نو ټولی ټیك دی؟ که داسی نه وی نو زه خو هغه گردۍ کوچنۍ ستر گی خوښوم چه دخپلو طبیعی وظایفو په لحاظ مکملی وی ـ اسلم چه به داواورېدله نو د بیزاری په حال کښی به ئی اړخ بدل کړ او مخ به ئی بلی خواته واړاوه او هیڅ به ئی ونه ویل.

غرض داچه دوی فطرتاً بالکل متضاد واقع شوی ومگر څرنگه چه ددواړو ضمیرونه نهایت پاك او بی عیبه و نو ددغه اختلاف ذوق باوجود ئی همدردی سره درلوده او دیو بل سره په غم کښی دشرکت دپاره هر وخت مستعدو، څرنگه چه ئی کالج پریښود او فارغ التحصیله شول نو یو د بل سره ډیر عمر بی خبره وو مگر څه وخت چه په خپلو وطنو کښی ددوی ودونه وشول او دودو، وروسته ئې یو څه زمانه هم تیره شوله نو دواړو ایو د بل جستجو شروع کړه او دجستجو پر کامیابۍ باندی دوی دواړو خپل خپل حال دمکتبونو په ذریعه داسی سره شروع کړ.

زما ورورا کرمه! زه څومری بی قراره یم چه تا وو ینم او تا ته

دخپل زړه در دونه ظاهر کړم
که څه هم ته دخپل فطرت په لحاظ
دزړه ددرد قایله نه ئی لیکن زما
یقین دی چه داوریدلو وروسته
به ئې ته هم په صحت قایله شی
ستا به په یادوی چه دواده متعلق
به کله کله زما اوستا په منځ کی
خبری اتری کیدلی ما به
هر کله داویل: زما په نزد واده
نوم دی ددوو روحانو د اتحاد،
ددوو طبیعتونو داتصال اوددوو
فطرتونو د امتزاج په داسی
طریقه چه ددواړو تشخصات محوه
شی اوددواړو تحزیه اوجلاوالی
داسی مشکل کارشی لکه دشیدو
څخه دبوری بېلوالی اوتابه زما
پردغه تعبیر او نظریه خندل او
تردیدبه دې داسی کاوه چه
ماینه هم ددنیا دنورومحسوسه
شیانو په رنګ یوشی دی اودهغی
سره وابسته مفادهم زمونږ دظاهری
حواسوسره متعلق دی اوبس.

خیرزماورورا کرمه! هغه وخت
چه فقط دبحث اومخالفت د ظن
اوقیاس زمانه وه تیره شوله نو
ځکه ئی ذکرهم فضول دی او نه
زه دماضی افسانی داوریدلو
دپاره تاته خطاب کوم و عملی
ژوند ته راغلی یم ـ صرف هغه
قصه واوره او دار او ښیه چه
څه وکړم؟ **زما ګرانه**
د کالج پرېښولو وروسته چه وطن
ته راغلم، نومی مور او پلار ته
دواده فکرلاحق شواوڅه وخت
چه په خپلوانواو عزیزانو کښی
داخبره مشهوره شوله
نودهری خوا څخه زما دپاره
دخواهشاتو اظهار شروع شواو
ماهغه وخت په خپل ځان کښی
یوپندار وزمه کیفیت محسوساوه
اوهرپیغام به زما دپاره یونوی
لذت درلود، تردغه حده چه اکثره
اوقات به می داخیال شوچه تول
پیغامونه قبول کړه ددغه ویلو
څخه صرف دا ظاهره ول غواړم
چه هغه وخت زه دواده کولو
دپاره څومری بی تابه یعنی
موزون وم مګرچه په سنجیدګی
به می غور وکړ یعنی چه
زه به لکه ته داسی شوم نو به می
پخپله یویو پیغام یعنی یوه یوه
مرکه رده کړه ولی چه په دغه
ټولو کښې حقیقتاً یوه هم داسی
نه وه چه په صحیح معنی زما
د محبت اوپرستارانه جذباتو
قدر کونکی وی. څرنګه چه
مور اوپلار دواده په معامله
کښې زما دمرضی پرخلاف
هیڅ فیصله نه کوله او ما هم
تردغه وخته دخپل خواهش
اظهار نه ؤ کړی نو ځکه کوښښونه
کیدل او روان وو ترهغه
وخته چه دګرمۍ وخت راغی
اوزه دخپل اکاسره کشمیر ته
ولاړم اوهلته موپه یوه مخصوصه
کښتۍ کښې قیام اختیار کړ
څرنګه چه په معمولی ډول
تراوسه لاد سیاحانو تګ او
راتګ دموسم دابتدأ په وجه
شروع شوی نه ؤ اوزه پخپله
همدغه یوازی توب کښی ډېر
خوښ وم اوپه ډېر حرص سره
می ددغه ځای دهر منظر څخه
ډېرخوند اولطف اخست. دقیام
څخه یوه هفته لانه وه تېره شوې
چه واړخ ته مو یوه بله کښتۍ
راغله په کومه کښې چه دبمبئی
یوه کورنۍ موجوده وه زه ډېر
خواشینی شوم ځکه چه
یوازیتوب اوخلوت می په انجمن
اوخلوت بدل شو. دوې روځی
لانه وې تېری شوی چه وما ته
ددغی خواشینۍ او افسردګۍ
سزا د کښتۍ دحرکتونو

د کښتۍ ترکړ کیواود
وریښمینو نقابونو په ذریعه
راکول شروع شول که دغه تعزیر
په دغه ځای ختم وای خو بیاهم
غنیمت و، مگر زما وروره!
خدای (ج) دې دهغه وخت
څخه وساته کوم وخت چه ښځه
دچا څخه په انتقام اخستلو
لاس پوری کړی لکه وماته چه
اذیت او تکلیف راکول شروع
شول، دهار مو نیم په او از
دموسیقی په سپکو سپکو سر و نو
په کرار کرار مختلفو آهنگونو
او په هغه قهقهو چه د کشمیر په
فضا کښې هیچا ضبطولای نه شوی
افسوس دی زما گرانه! چه زه
افسانه نه شم لیکلای او که
مالیکلی شوای نو حقیقت
خودا دی چه زما دهغه وخت
دژوند هره هره لمحه داسی وه
چه لوئې لوئی قصی ځنی جوړ بدلې
او زما هر سهار او ماښام دیوې
نوې افسانې حامل ؤ حیر مختصر
داچه په یو څوور ځو کښې زما
مراسم ددغه گاونډۍ کورنۍ
دمشر سره هم پیدا شول او کرار
کرارئې داسی عجیب صورت
اختیار کړ چه دفصل ترختمید لو

دمخه په هغه کښتۍ کښې
زما واده د هغی ازار او اذیت
راکونکی سره وشو او په دغه زمانه
کښی زما دایقین شوی وچه که یوه
ښځه زما د مرضی او معیار
مطابق کیدلای شی نو صرف دغه
به وی ځکه زه په دغه رشته ډیر
مسرور او خوشاله وم او زما
مور وپلار هم زما د خوشالۍ
په وجه څه کم خوشاله نه وو
ښه! نو پوه شه چه په کشمیر کښې
زما واده وشو موسم ختم شو او زه
دخپلی شریکی سره کورته راغلم
دلته غواړم چه داتاته وښه یم
چه زما په ښځه کښې هغه
کوم خصوصیت د کوم پر بنا چه
ما دا فیصله کړې وه چه تر دغه
بهتر انتخاب نا ممکن دی
څرنگه چه ته زما په جمالیاتی فلسفه
ښه خبرئې نو ځکه ته پوه شه
چه ما هر څه پسند کړی دی
هغه به ضرور زما دمعیار مطابق
وی مگر په دغه خیال چه ممکن
دی ستا به زما جمالیاتی فلسفه
هیره شوې وی نو مختصرئې بیانه وم
تر واده دمخه چه ما د خپلی
شریکی دحیات کومه مجسمه
قایمه کړې وه،

هغه د حسن او د حسن
دپرستاری یو داسی تصویر ؤ
چه په یوه خاصه سانچه کښې
جوړ شوی، دسر څخه تر پښو لوتیدل
او رالوتیدل داعضاؤ دلحاظ یکسر
تناسب او موزونیت - دهری هری
اداڅخه نشه بخش او سحرانگیز
دذهنیاتو په لحاظ یکسر برق -
دتأثراتو په لحاظ بالکل پاك
او لطیف او دمحبت په پذیرایۍ
کښی یك سر گاهی درد
او گاهی آه او گاهی کراه -
دایقیناً زما انتهائی
خوش کامی ده - چه صادقه (کومه
چه زما دشریکی نوم دی) دخپل
هرخط او خال په لحاظ ما دخپل
ذهنی تصویر مطابق ولیدله - او نه
شم ویلای چه یو څو میاشتی په
څرنگه فردوسی کیفیتو کښی
تیری شوې - ما به خیال کاوه
چه زه شاید دلطف او انبساط دژوند
دپاره پیدا شوی یم - او دغه رنگه
فطرت به پر ما گاهی نا مهربان
نه شی لیکن چه پلار می دزړه
دحرکت دبندېدلو په وجه دفعتاً
مړ شو او زما ستر ګی خلاصې شوې
نو معلومه شوله چه تر هغه وخته
زما څه قدر ژوند چه تېر شوی ؤ

هغه ټول خیال او وا همه وه
او حقیقی ژوند اوس شروع شو
څرنګه چه زما پلار ډیر پوروړی و
او دجایداد آمدنی کم شوې وه
نو ځکه پرما چه دفعتاً د کومو
بلاوو نزول و شو هغه نا قابل
بیان دی - پور وړو تقاضا وی
دمصارفو ډیروالی او دلاس ته
راوستلو فقدان - دارا معلومېدله
چه ما څوك خفه او مختنق کوی
خوسامی نه وزی - بېله دې بله
چاره نه وه چه خپل جایداد خرڅ
کړم او دپور دبار او ذلتو څخه
ځان خلاص کړم او ور وسته
له دې دملازمت تلاش شروع کړم
لکه څرنګه چه می په دغه تدبیر
عمل وکړ او تر یوه حده د دغه
مصایبو څخه په امان - او یوه
نوکری می اختیار کړه چه دمیاشتی
سل روپۍ تنخواولری - اګر که
دغه انقلاب په ابتدا کی زما
دپاره دروح سوهان و - مګر کرار
کرار زه دعملی ژوند دمصایبو سره
عادی شوم او دا کوښښ می شروع
کړ چه په یو رنګ درنګو نو سره
خپله شریکه صادقه هم ددغه ډول
ژوند سره عادی کړم مګر زه
پکښې کامیابه نه شوم او دغی

ناکامۍ وماته داډول صدمه
درلودله چه دماضی ټولی صدمې
مې دزړه او روح څخه
محوه شولې - اوس ضرورت ددغه
دی چه زه او هغه دواړه د تیرو
خوبو نو خیال د زړه څخه
محوه کړو لکه څرنګه چه ما دغسی
وکړه او صادقه په دغه راضی
نه شوله حقیقت خو دا دی چه
دهغی دشعریت ټولی اداګانو
چه یو وخت زما دپاره خوراښه
لذتونه وو - اوس بد ترین
تکلیفونه دی زه غواړم چه هغه
زما په شان د عملی ژوند په
جنجالو نو مبتلا شی مګر هغه
هرګز نه راضی کیږی
زما دعسرت او فلاکت تقاضا داده
چه هغه دې هم دغریبانو په شان
ژوند تېر کړی - پخپل لاس دی
کار وکړی لیکن هغه دخپلو
دیباو او حریر دهروخت تبدیل
او تغیر دشغل او دلاس دنرمۍ
څخه دومری خایفه ده او ډاریږی
چه چیری ئې دجسم ورېښم خراپ
نه شی - زه غواړم چه هغه
پرمعاملاتو غور وکړی او په
پریشانیو کښې وماته تسکین
راکړی - اقتصاد ترغورلاندی

ونیسی لیکن دشاعرۍ او موسیقی
ذوق چه انسان لازماً مسرف کوی
هم په دې کښې په داسې طریق
اتم موجود دی چه دیوې دقیقی
دپاره دانه غواړی چه ځنی
جداشی - زه په یوه حال کښې یم
مګر ددې کار صرف د شعر
دمطالعې سره دی. زه په کوم
مصیبت کښې یم مګر داد خپلی
هارمونیم سره مشغوله وی
په کور کښې دخوراك د پاره
که څه وې او که نه مګر ددې دپاره
دګرامفون تازه ریکارډونه
مهیا کول واجب دی، پرمایو فکر
مسلط وی، مګر د دی طلب
پرستاری ده - وماته دعشق او محبت
دنمونو څخه هم اوس نفرت دی
او داتر اوسه لا هغه غواړی
زما وروره! څه درته ووایم
هرسهار ددی وقدنمایه هنداری
ته دریدل دسرپه ویښتانو کښې
کله دزلف پریشان کیفیت
پیدا کول او کله دکاکل
په رنګ جوړول او کله په
برقی زمونځ عجیب صورت پکښې
پیدا کول او داد دی ګیڼو
دپاره په خپلو هغو چستو او

چاغو ملبوسو کښې تر کوم چه
دبدن ټول نشیب او فراز او
دصورت ټول مداوجز رصاف
ظاهر پېژی تبدیلی پیدا کول
اودغه رنګ دجسم اوبدن په
تجلیل او تحسینې کښې کوم
چه ددې دپاره دیوه فن حیثیت
لری داسی نیرنګی پیدا کول
چه زما دپاره که پخوا دلطف او
دچسپې بوجهان واوس دتسکین
پرځای دجراحت اودانبساط
پرځای دجفادتیغ کار کوی
داسی تنګ اوژوندی په کور
کښې یم چه وتانه وژاړم چه
دخدای دپاره وو ایه ! چه څه
وکړم اوخرنګه دهغی فطرت بدل
کړم، تابه ویل چه په عملی
ژوند کښې شعراوشاعری لطافت
او ادبیت کارنه ورکوی او
مابه خندل مګراوس دارامعلومه
شوه چه ستاخیال هرڅه چه وهغه
یوحقیقت وه نظر انداز کولو
په وجه پرما دغه مصیبت نازل
شوی دی. که ما په خپل خاندان
کښې دیوی غریبی نجلی سره
نکاح کړی وای نو یقیناً به زه نن
دپریه ارام وای ولی چه حقیقتاً
ماینه هغه د. چه دمېړه دحالاتو
په لحاظ په خپل مزاج کښې
تبدیلی پیدا کړی او مېړه د خپل
ذوق پربنا دسامان پر فراهمی
مجبوره نه کړی، اوس د دفتر
وخت شواو په پتلون کښې یو ځای
پنه کوم نو ځکه مجبور یم
قلم کښېږدم اوستن او سپنسی
راواخلم - هروخت چه دد غه
خط جواب راشی نو به دافسانې
پاتی برخه درواستوم .

بدنصیبه اسلم

زما ورور اسلمه!

ستاخط راورسیده وه می لوست
او بې اختیاره خندا راغله باور وکړه
چه نن زروسته پوره له دوو میاشتو
خپلی شوندی د خنداسره اشنا
کېږم او دا وهم هم راسره
ملګری دی چه چیری می ماینه
ونه وینی او دخندا په وجه مطالب
شروع نه کړی. په دې کښې شك
نشته چه ستا حال ډېر قابل درحم
دی، ددې دپاره نه چه ستا ماینه
شاعره اولطیف الخیاله واقع
شوې ده (ولی چه دښځی غیر ادبیت
اوغیر شاعریت تر دغه زیات
تکلیف ورکونکی وی) بلکه
صرف په دغه وجه د رحم قابل
دی. چه ستا دپلار انتقال ته
په غیر معمولی افکار واو
اقتصادی مصیبتو نو مبتلا
کړی ئې دکوم دپاره چه ته
حقیقتاً پیداشوې وې څرنګه
چه ستادحال په اوربدلوو ماته
حیرت پیداشو. دغه رنګه به
زماد کیفیت په معلو مولوته هم
متعجب شی. مګرحقیقت دادی
چه دطالب العلمی په زمانه
کښې ستاقایم کړی خیال چه
څرنګه غلط ثابت شو، دغه
رنګه زمانظر په دهر اعتبار
څخه صحیح نه شوه
زماورور ه زمادواده واقعه
ستادنکاح دواقعې په شان څه
اسانه نه ده بلکه نتیجه ده
فقط دبعضی هغو مسلمانو کوم
چه ما په خپل ذهن کښې قایم
کړی وو.

ماهمیشه داخیال کاوه چه
څرنګه پرنارینه ترکوربانده
بعضی فرائض دژوند عائدوی
دغه رنګه پرښځه هم دننه په
کور کښې بعضی ذمه واری
موجودې دی یعنی په کوم
صورت چه نارینه دکار دپاره
پیدادی دغه رنګ ښځه هم
دبیکارۍ دپاره په وجود نه ده

راغلی ،

زما وروره ! څرنګه چه زما دپلا روفات تر واده د مخه واقع شوی ؤ ، نو په دې وجه ما ینه ما په خپله باید کړی وای ، او دډېر تحقیق بعد دا خبره ثابته شوه چه د کابل په محیط کښې دې داسی ښځه پیدا شی چه زما دنقطه نظر سره سم عمل پسندوی البته د جنوبی یا مشرقی د حصو په شاوخوا کښې ممکنه ده چه دجسم او اعضاؤ په شان ئې دماغ هم نزاکت پسند نه وی ، او د شعریت خوئی لانوم او نشان هم نشته ، چنانچه ددغې فیصلې بعد می فوراً په محله کښې ویو غریب خاندان ته پیغام ورواستاوه او په نتیجه کښې دیوی میاشتی بعد واده هم وشوه ما چه په څرنګ سادګی عقد او نکاح کول غوښتل تر هغه زیاته سادګی دهغو ملحوظ وه.

تا ته معلومه ده چه زه دجمالیاتو په معامله کښې مداماً څه خاص درك او ذوق نه لرم ، نو ځکه دصورت او شکل په لحاظ هم زه څه تنقید نه شم کولای ، صرف دغه قدر ویلای شم چه صورت ئې بدنه دی ، یعنی کم از کم زما دپاره ناګوار نه ده او دغه ؤ دحسن متعلق زما انتهائی معیار - دجسم او قواؤ په لحاظ هغه بیشکه قابل الذکر انسان ؤ او ده.

په دې کښې شك نشته چه داعضاؤ دصحت او توانائی په لحاظ پرورش یافته کېدل او دهغو په نشو او نماء کښې د بل شی نه خارج کېدل دهر شخص فطری حق دی - لیکن دواده بعد اول وار ما ته دا معلومه شوه چه دښځې په باره کښې دغه فطری حق باید چه یو څه ضعیف وی ولې چه د نر او ښځې په ما بین کښې څرنګ چه نوری خبری ما به الامتیاز دی هلته داعضاؤ ساخت هم شامل دی.

په ابتداء کښې پوڅوروځی د صحت او توانایی دغه عظیم الشانه مجسمه وما ته عجیبه او غریبه معلومېدله او د کور هر هغه شی په په قسمت کښې ئې ددې دپاره برداشتول لیکلی و هر یوه پر خپل خپل ځای آه فریاد کاوه او ما دهغو پروانه کوله کرار کرار می په خپل نظر کښې دومرې وسعت پیدا کړ چه ددغه قسم آه او فریاد برداشت و کړای شم د خپلو مشاغلو په لحاظ مادا یعنی ماینه یکسر عمل لیدله ، دهر هر شی نګرانی ، هر وخت دهغه انتظام حساب او کتاب دمصاوفو اندازه ، زما دضروریاتو لحاظ پروخت باندی دهر شی فراهم کول دغو ټول د هغې دژوند معمولی وظایف ؤ ، مګر اسلم وروره! قسم په خدای دی چه اوس ددغه ټولو خبرو څخه خائف او بیزاریم ، ددغه ډول اهتمام او انتظام دژوند نه پریشان یم او زړه مې غواړی چه په ټول نظام کښې بی ترتیبی پیدا شی او دیوی لمحی دپاره زه خپل ځان آزاد تصور کړای شم ، حال دا دی چه که په خپل اختیار د کور یوه خاشه ددی ځای نه وهغه ځای ته ښورول وغواړم نه ئې شم کولای - په ابتداء کښې به دی یعنی زما ښځی دخپل اقتدار ثبوت داسې ورکاوه چه هر وخت به مایوشی وښوراوه نو دی به په خاموش برهمی ېېرته واخست او هلته به ئې کښېښود ، لیکن کرار کرار چه حجاب لیری او

دبې تکلفۍ دور شروع شو نو بیا
دزجر او توبیخ، دتهدید او دمسکۍ
دخشم او تریو تندی سلسله شروع
شوه تر دغه حده چه په ما کښې
اوس دومرې همت هم پا ته
نه دی چه دهغې بې خواهش بی وخته
بیمار هم شم .

زما وروه اسلمه ! دواده
مې اوس دوه کاله تېرید ونکی
دی ، لیکن یقین و کړه
چه هغه ورین تندی چه اوله
روځ ما دهغې پر چهره باندی
محسوس کړ ترننی روځی هم هغه
ډول قایم دی - خنده یا قهقهه
خو خیر لوی شیان دی زما په کور
کښې خو اوس دتبسم هم گنجایش
نشته - دهغې تبسم خو پرېږده
زما هم اوس دانه یا دیږی چه
دخندا او تبسم ابتداء دچهری
دکومو عضلاتو نه شروع او په
کومو ختمېږی، سهار کښېناستل
لمونځ کول، قران ویل ، چای
تیارول زما دملبوس خیال درلول،
ددفتر پروخت و ما ته ډوډۍ
را کول ، پوشاك را اغوستل
او بیا دفتر ته استول بعد از ان
دکچنی نهگداشت کول دهغه
کالی جوړول او ددغه ټولو
انتظام کولو بعد بېرته دماښام
دپاره دخوراك په انتظام
مشغولېدل او دماښام دخوراك
خوړلو بعد دورځی حساب او کتاب
کول وغیره وغیره ، ددی دهری
ورځی هغه مشاغل دی چه انقطاع
قطعاً په کښې نا ممکنه ده -
او دیته دیوی لمحې دپاره ددغه
امر اجازت نه ورکوی چه زما
دا واوری او خپل څه ووائی
بعض اوقات مکمل یوه یوه هفته
تېره شی په داسی حال کښې نه
هغه زما سره خبری کولای شی
او نه ئې زه دهغی سره - زما
وروره ! په دېکښې شك نشته چه
داټول مشاغل دیوې ښځې په
فرائضو کښې شامل دی - مگر
دخاموشۍ دطلسم او جادو دکوم
چه زه ښکاریم اخر څه معنی
زه نه پوهېږم چه زما کور
دکراماً کاتبینو وحرم دی، او که
زما دښځی تمام عمر دمریمی
روژه وی - خوش نصیبه وی
زما دپاره هغه روځ چه رشید یعنی
زما زوی پر یوه خبره په ژړا یا
عصبانی شی او دا دهغه دخوشحاله
کولو یا خفه کولو په خاطر
پرا واز کښلو مجبوره شی -
اسلم - زما ښځه تر ضرورته زیاته
خواننده او نویسنده ده لیکن
دادب دذوق ئې دغه حال دی
چه پنج کتاب هم په موزونه لهجه
نه شی و بلای نه بحر پېژنی او نه
وزن، تمام بحرونه په یوه وزن وائی
کوم چه دشعر دوزن سره خو هیڅ
تعلق نه لری بلکه نثر هم
نه شی - خدای ښه پوهیږی چه
الفاظ به ئې څرنگ مسخ شوی
ترخوله راوزی چه زما په شان
بې حسه انسان ئې هم نه شی
برداشتولای - یوه روځ ماورته
وویل چه تا ته دشعر ویلو ضرورت
څه درپیش دی بس دغه قدر
ویل ؤ چه دهغی روځی څخه
پوره شپږ میاشتی تیری شولې
چه بیائې نه کوم دشعر کتاب
اخستی او نه ویلی دی، گویا
دی دشعر دبلا څخه دنجات
حاصلو لو بهانه پیدا کوله او زما
دغه وینا ودی ته یو عذر شو او بس.
پرون دیوه همسایه په کور کښې
یو گرافون وهل کیدی چه
داریکار ډپر پروت و « باز
می پوشند و ما در آفتاب افگنده ایم »
ما چای چښووی ء او دا ناسته وه،

ماته ئې کتل چه چیری دماڅخه
دعادت خلاف یوه خبره یا یو حرکت
صادر شی فوراً چه ئې دریکارډ
پورته نیمکۍ واورېده وئی
ویل چه دا بازمی پوشی ومادر
آفتاب افگنده ایم به څه شی وی-
مادو همه خندا ضبط کړه او پوښتنه
می ځنی وکړه چه ولی تا ته
معلوم نه دی !- نو دې وویل:
چه د کالو بیرته اغوستل او لمرته
اچول نه دی ؟ - اوس د خندا
ضبطول زما دپاره نا ممکن شول
اگر که دا یو څه برهم شوله مگر
نزله ئې راباندی ایله نه شوله
او بیا چه ئی د نیمکۍ هغه بله
برخه واورېده چه «هیچ کس
بی دامن تر نیست اما دیگران»
فوراً ئې وویل چه بس هغه زما
تفسیر شو که نه ؟! ماورته وویل
څرنگه ؟ دې وویل : چه د
هرچا دلمن داودس په وخت کښی
لندېدل ضروری دی مگر چه
مسکینان دی هغه پروا نه په
کوی او چه مالدار دی هغه ئې
بدل کړی او لمرته ئې واچوی
داچه می واورېده دخندا دزوره
می پیاله دلاسه ایله شواله ودې ته
می لاس تړلی خواست وکی ءچه

«خانم دخدای دپاره آینده
ته د کومی غزلی د پوهېدلو
کوښښ مه کوه او په هرڅه چه
په زړه کښې پوهېږې هغه په زړه
کښې ساته او اظهار ئې مه کوه
ولی چه په ما کښی د دغسی
تفسیر داورېدلو تاب نشته او که
تادرې یا څلور واره پر خپل
دماغ داډول فشار راؤست
یقیناً به زما ساه وخیژی »

زما وروراسلمه !

فارسی ویلای شی لیکن چه
قیامت شی همدا ویل به پرې نږدی
چه « مه چم - نه خواهد شد
وغیره وغیره» غرض دا چه د دنیا
هیڅ کوښښ به دا دخپلو اصولو
څخه وانه ړوی ، نو ځکه ئې
په مزاج کښی کوم خشونت
او سختی - په لب او لهجه کښې
ئې چه کوم گرفتگۍ پیدا
شوی دی دهغو درفع کولو دپاره زه
هیڅ توقع نه لرمه - او زما ژوند
داسی په بې لطفۍ ، داسی په
بې رنگۍ تیر یږی چه بیان
ئې نه شم کولای. زه ئې هرقدر
عملی او دعملی ذوق درلودونکی
انسان لیکن د سهار څخه تر
ماښامه پوری د کار کولو څخه

دخستگۍ وروسته هرانسان
فطرتاً دلطف او تفریح جستجو
کوی- او دغه شی زما د پاره
مفقود دی- په زړه کښې دې
دازما هرقدر همدرده وی مگر
دهغې نشست او برخاست دهغې
گفتار او رفتار او دهغې دهری
هری ادا څخه خوبېله دردناکۍ
او مزیدی خستگۍ بل هیڅ په
نظر نه راځی .

زما وروره! ته دخپلی ښځی
تر ضرورت زیات ادبیت
او شعریت څخه نالان ئې. او زه
دخپلی ښځی د تر حد زیات خشکۍ
او وحشت څخه بیزاریم- ممکن
دی چه د دغه په اورېدلو به په
تا کښې کوم خاص کیفیت
پیدا نه شی مگر زما په خدای قسم
دی ما چه ستا پریشانی
واورېدله نو می ستا حال درشك
سبب شو- څه ؤ کړم په اختیار
کښې می نه ده- که نه وی نو زما
او ستا د پریشانیو یوازینی علاج
داو چه نسیمه (چه ستا د ښځی
نوم دی) او اقبال چه زما د ښځی
نوم دی دواړی ذرې ذرې کړو
او اجزا ئې یو دبله سره گډ بیا

(پاتی په ۹ مخ کی)

دښاغلی غلام سرور «رحیمی» لیکنه او تتبع:

دغرب تمدن

په دی اوږده مقاله کښی به زه دغرب د تمدن سوابق او مختلفی دوری ولیکم او په دی مختلفو او بېلو بیلو دورو کښی به لکه اولنۍ پیړۍ ـ منځنی پیړۍ او اوسنۍ پیړۍ دغرب اجتماعی اقتصادی اوسیاسی اوضاعو ته اشاره وکړم او هم به دهغو برجسته او نومیالیو او نامتو علماؤ او فیلسوفانو نظریی بیان کړم چه په دی مختلفو دورو کښی ئی په مختلو حصو کښې لکه اجتماعی اقتصادی اوسیاسی اوضاعو په باره کی ورکړی دی مثلا اولنۍ پیړۍ چه تقریباً تر پنځمی عیسوی پیړۍ پوری ئی دوام درلود ددی دوری اجتماعی، اقتصادی اوسیاسی وضعیت به بیان کړم او هم به ددی دوری دنامتو علماؤ او فلاسفهؤ نظریو ته اشاره وکړم بیا به منځنۍ پیړۍ چه دپنځمی پیړۍ څخه بیا تر پنځلسمی پیړۍ پورې ئی دوام درلود ددی منځنۍ دورې اجتماعی، اقتصادی اوسیاسی وضعیت به بیان کړم او هم به ددې دوری د علماؤ نظرئې ولیکم. په پای کی به د اوسنی عصر چه دپنځلسمی پیړۍ راودی خواته وی او بیا تر اوسه اجتماعی، اقتصادی اوسیاسی وضعیت به ولیکم او هم ددی دوری علماؤ او دهغو نظریو ته به اشاره وکړم ممکنه ده چه دا مقاله به دیوی رسالی شکل او یا دیوه لنډ کتاب شکل غوره کی او هم ممکنه ده چه دا کار یو مشکل کار دی او تر دی پخواهم اثار په دی باره کی لږ لیکل شوی دی نو ممکنه ده چه ځنی ماتی او گوډی به هم ولری اما دا به په حیث دیوه اساس قبول شی او نور محترم لیکونکی به ئی اصلاح کی. دا هم باید وویل شی چه دا مقاله زما دهغه نوتو او نوشتو اثار دی چه زه ئی په فاکولتو کی درس ورکوم.

باید وویل شی چه دغرب اوسنی تمدن څرنگه چه اوس په غرب کښی دی دغرب څخه نه دی شروع شوی بلکه ددی تمدن اساس او پایه دیونان او د اسلام تمدن دی یا په بل عبارت دغرب اوسنی تمدن دیونان او اسلام د تمدن څخه ممزوج شوی دی چه ددی تمدن اساس بیا د هندوستان او چین تمدن دی چه دبین النهرین څخه ئی سرچشمه اخیستی ده. ولی په دی مقاله کښی به یوازی دغرب

(د ۸ مخ پاتی)

ددغې مادې څخه دوه معتدل مزاجه او معتدل صحته ښځی جوړی کړو ـ څرنگه چه مودا پراختیار کښې نه ده نو بیله صبره بله چاره نشته ولی چه دا نتیجه ده زما او ستا د تفریط او فراط او علاج ئې صرف اعتدال دی او اعتدال زما او ستا تر امکان د باندی شی، نو ځکه تر پایه به ددغو خمیازه برداشته و، او بس.

ستا مخلص «اکرم»

تمدن بیان شي او خصوصاً به بیا
اوسنۍ پیړۍ چه ډیر اجتماعي،
اقتصادي، او سیاسي تحولات په
غرب کې پېښ شوي دي
مفصل ولیکل شي خو بیا به هم
داولنۍ پیړۍ خصوصاً دعلماؤ
نظرئي او منځنۍ پیړۍ هم تر
ستر گو وانه چولي شي.

په اوله پیړۍ کښې چه تر پنځمې
عیسوي پیړۍ پورې ئي دوام درلود
دروم او یونان اقتصادي، سیاسي
او اجتماعي وضعیت د تذکرو ړدي
او د دي دوري علما او ددوي
نظرئي ډیري مهمې دي. په دي
عصر کې تمدن ډیر محدود
او ساحه ئي ډیره کوچنۍ وه.
په جامعه کښې ئي درو طبقو خلکو
ژوند کاوه چه اشراف یعني
حاکمه طبقه وه، عساکر
او مریان وه. یوې محدودې
طبقې هر ډول امتیازات
او حقوق درلودل مگر اکثریت
دجامعې دهر ډول مدني او
سیاسي حقوقو څخه محروم وه
مثلا په آتن کښې یوه بهترینه نمونه
دحکومت او دیموکراسۍ
موجوده وه اما څرنگه چه
مودمخه وویل دا دیموکراسي

دیوې محدودې طبقې دپاره وه
او نور مریان وه د آتن حکومت
یوه پنځه سوه کسیزه ملي شورا
درلوده چه قوانین به ئي وضع کول
ددي شورا غړي دخلکو دخوا
ازاد انتخابیدل.

لوړ عسکري او عدلي
مامورین هم دخلکو دخوا
انتخابیدل، خلکو هر ډول حقوق
درلودل اما مریان دهر ډول
حقوقو څخه محروم وه ددي عصر
د تربیې وضعیت او هغه رنگ رنگ
وضعیتونه لیکل شوي دي چه دلته
دهغه څخه صرف نظر وشو، ولي
چه ددي عصر اجتماعي، اقتصادي
او سیاسي اوضاع او هم ئي تربیه
ډیره پیچیده او مبهمه ده، مگر ددي
دوري علما او ددوي نظریې لکه
افلاطون، ارسطو او نور دلیکلو
او تبصرو، وړدي نوله دي کبله به
ددي دوري دعلماء نظرئي چه
تر اوسه ددوي نظرئي مروج
دي د تذکرو ړدي.

افلاطون:

افلاطون په ۴۲۷ ق م کښې زیږیدلي
او په ۳۴۷ ق م کښې د تاریخ کتابو
دده مرگ لیکلي دي. افلاطون
یوذکي فیلسوف دي دا دافلاطون

دذکاوته څخه دي چه دمرئیتوب
په دوره کښې چه مرئیتوب
وخپل اوج ته رسیدلي و، دي
غلامي او مریتوب په بده ستر گه
گوري او افلاطون نظریه
ور کړیده چه غلامان انسانان دي
او باید ددوي سره لکه دانسانانو
په شان رویه وشي مگر ارسطو
غلامي منلي ده او غلامان ئي
دتولیدا توژوندي وسائل
بللي دي.

دجمهوریت نظریه، دسیاست مدار
نظریه او د قانون نظریه
دافلاطون دیادگار څخه دي
او دافلاطون دخوا ئي پیشنهاد
شوي دي افلاطون نظریه
ور کړیده چه ددولت وضعیت
دجامعې د افرادو پر اخلاقو او
کردار باندي موثر دي، حاکمه
طبقه باید علم او تدبیر ولري ولي
چه ښه اخلاق او نیکوکارۍ
پر علم ولاړي دي افلاطون معتقد و،
چه رسم او رواج دعقل او
تجربې حاصلات دي او د یوې
جامعې په ژوندون کې لوی رول
لوبوي نو باید حکومت هم
دجامعې د رسم او رواج او دود
احترام وکړي او خپل ځان

دهغه تابع و ګڼی، افلاطون دحاکم دعلمیت په باره کی ډیر پر مخ تللی دی او وائی چه حاکم باید فیلسوف وی او یا باید فیلسوف حاکم وی، ولی چه ټولی مزایا وی په علم او فراست پوری اړه لری.

دجامعی دتشکیل په باره کی افلاطون داسی نظریه ورکړیده چه جامعه د کار دویشلو په سبب او دتعاون او تساند د احتیاج پر اساس تشکیل شوی ده دا دافلاطون نظریه او سنو علماء هم منلی ده او د جامعی د تشکیل عوامل ئې احتیاج وتعاون او او تساند ته ویلی دی، افلاطون وائی چه عموماً په طبیعی ډول سره په جامعه کښی غنا، یا غربت وجود نه لری اما داشیان د افرادو په واسطه منځ ته راځی، افلاطون دحاکمی طبقی دپاره دملکیت او دفامیل ګډون منلی دی، دده په عقیده چه دا ډول ګډون دفکر او هدف دیووالی باعث کیږی چه یووالی د فکر او هدف دحاکمی طبقی دپاره ډیر ضرور دی افلاطون په هغه وخت کښی هم د اقتصادی اوضاعو څخه بی خبره نه ؤ او ګټوری نظریی ئی داقتصاد په باره کی ورکړیدی افلاطون معتقد دی چه دحکومت مداخله په اقتصادی امورو کی مهمه او ضروری ده دشلم قرن اقتصادیون هم داسی مداخله دحکومت په اقتصادی امورو کی ضروری ګڼی افلاطون وائی چه باید اقتصادی تدبیرونه دحکومت له خوا کنترول او اداره شی چه داقتصادی جنایاتو څخه جلو ګیری وشی او دثروت تمرکز پیښ نشی - غریب او ناداره طبقه تشکیل نشی - او جامعه دنیکمرغی، وخواته روانه شی.

افلاطون سود او سودخوری په بده سترګه کتلی ده چه پس له ده څخه دحضرت عیسی (ع) او دحضرت محمد (ص) په دین کښی هم ممنوع ؤ سود به غریبانو ورکاوه چه هغو اصلی پور هم نسوای ادا کولای او افلاطون وائی چه پور وری دپور په ادا کولو مجبور نه دی. ددی څخه دافلاطون بشردوستی او نوع پرستی ښکاریږی.

افلاطون وائی چه د ملکیت حق محترم دی اما باید استعمال ئی مشترک وی، دملکیت حق پر درو برخو ویشل شوی دی (۱) ملکیت لاس ته راوستل (۲) ملکیت انتقالول (۳) ملکیت استعمالول. او سنی علما هم په دی حقیقت پوه شوی دی چه باید دملکیت داستعمالولو حق مشترک وی. مثلا هر سړی و کولای شی چه مځکه لاس ته راولی او مځکه خرڅه کی یا ئی په میراث او تحفه پریږدی اما حتماً باید مځکه وکری او زرع ئی کړی ولی چه داستعمال حق ئی د نورو سره مشترک دی. په اکثره مملکتو کښی اوس ملکیت په دی حیث پیژندل شوی دی.

افلاطون عقیده درلوده چه د انسانانو مقصد او مرام په ژوندون کښی دخپل ځان پیژندل دی نه دمال او ثروت جمع کول. بهبودی خواهان علما تقریباً دغه نظریه لری چه مال او ثروت وسیله دسعادت او خوشحالی ده دا پخپله مرام نه دی.

ښاغلی عبدالحق واله:

زما تشه دنیا

د یوه لیونی په شان چه بېله کوم هدف هر پلو ګرځی او راګرځی زه هم په خپله تشه دنیا کښی سرګردان یم. بې رنګه او بې خونده شیان زما د سترګو دپردې له مخې تېرېږی. دشپو او ورځو په ټېل ماټیل کښی زوړند پاته یم فکر کوم دا ولې؟ څو په پای کښی را په یاد شی چه د خپلو آرزوګانو مرکزمې له لاسه وتلی دی.

هو، بېله هیلې او آرزو ژوند دوخت او ځلمیتوب ضایع کول دی او هغه شی چه د آرزو او ربل ساتی، د مینې روح روزنکی وزمه ده. دې وزمې دڅه مودې دپاره زما روح لا ډك کړی و، خواوس د هغه خرمائی ویښتانو سره لوبې کوی.

غواړم چه د ماښام د ستوری دسترګك سره ځان هغه لرې افق ته ورسوم چه هلته مینه او آرزو سره ګډ شوی او دنشاط بزم جوړ دی. غواړم په هغه بزم کښی ښکلی شراب شم او بیا د خپلی ښایستې محبوبې دسترګو د کړکۍ څخه خپله تشه دنیا وګورم.

ماشوم زوی ته:

لوبی کوه - په ما

ځکه زه هم ستاد لوبو داسبابونو یوه برخه یم او ... هغه برخه چه ستا تر پیدا کېدلو دمخه زمادجهان بازار په گرم و،

او دډېرو لږ وور ځو دپاره...

زه نن هغه متاع یم او دعین هغه بازار .

وکړه لوبی په داسی حال کښی چه زه پخپله د «لوی» «پوه» «دفکرخاوند» القابو دفریب په جال کښی هم موښتی یم .

او همدغه فریب په ماخپلی خبری «منطقی» «بلیغی» او «فصیح» هم بولی .

راشه! لوبی وکړه - په ما !

زه ستادلوبو یوه متاع یم او دلږ وخت دپاره دزړه سره !

زه لوی نه یم که څه هم خیاط وماته ترتالوی کالی سکنی .

زه لوی نه یم که څه هم په دفترونو کښی وماته دقلم چلولو چانس را کړ شوی دی.

زه ووړیم او ستاد لوبو یوه ارزانه برخه .

نو ته !

لوبی کوه او په ما - ترهغه وخته چه ته هم زما په شان دبل بازار دلوبو متاع کیږی .

لوبی کوه په ما - زما په فکر - زما په بازو - زما په پوهه - زه ستادلوبو متاع یم او ترمرگه.

اې زمادزړه سر اوتر مالوی اوقوی مخلوقه !!

(ژواك)



ستر گی

ښاغلی بختانی دسره رو دنه:

ستر گی د آشنا چه مهربانی شوې
اوس دامید ستر گی څه رو ښانې شوې

ماوی چه حضور کښې ئې زاری به کړم
وخت دملاقات کښې بیا پښېمانی شوی

هو مره په وصال کښې سرگردان و مه
هجر کښې سختی ته حیرانی شوی

مخ ئې چه دزلفو په تورتم شو پټ
سر په پریشانیو آرزو گانی شوی

وائی: ډیر قیمت لری خندا هوس
مه ژاړه چه او ښکی دی ارزانې شوی

پوه چه « بختانی » په زندگی شو
اوس دزنکدن سلگی آسانې شوې

د دیدن غلا

نن مې د یار د مخه بیا د دیدن غلاو کړه
په سلسلو کښې مې د زلفو مشغولاو کړه
مستی لبریز په پیمانو شوه سرشاری ئې راوړه
مات ئې خومار کړ مړاو دستر گوئې بلاو کړه
عبث نا صحه نصیحت کوې وهغه چا ته
چا چه یو ځلی د د لبر دمخ سود او کړه
پیمانه لاس کښې دساقی وه چه مې خواله راغی
دشونډو گوټ کښې ئې مو سکی غوندې خنداو کړه
سینه دزړه مې کړه سپرد کرشمو تیغ ته
پیوند دزړه مې دبڼو په ستن اشنا و کړه
نشوې اوچتې که مې هر څو دلجوئی کوله
داشنا ستر گو نه ځما ستر گو حیا و کړه
راشه ساقی وروستی کوزه دمیو وځنځوه
د «لونگین» په لیونی مینه وفاو کړه

ستاله ستر گو

ښاغلی ع، پرهېز:

څنگه چه اوښکه شی جداله ستر گو — داسی لویدلی یم آشنا له ستر گو
طمع مې یار نه دوفا کیدله — اوس راته گوری دجفا له ستر گو
دبې ارزی کچکول تر څنگ گرزوم — غواړم وفا به اوس دچاله ستر گو
خپل اوپردی مې اوس په کر که وینی — نه کوی څوك مې اوس حیاله ستر گو
زه او یار ستر گې او نظر و سره — داشوه راپېښه اوس دچا له ستر گو
شوې دزړه وینې مې اوبه له غمه — څاڅی دیار پښو کې زما له ستر گو
که ستر گې ستاوی تمانچې دا جل
غواړی پرهېز دغه د ستاله ستر گو

ښاغلی رشاد قندهاری:

دغریب زکندن

الهی! ته می حال وینې، چه دزړه په وینو پایم
آرزو شوه دژوند ختمه، له تا، تا ته په ژړایم

داجهان دنامرادۍ دیء، په ارمان ورځنی لېږدم
څوك می غوږ پر کرزونه ږدی، داخواله(۱) به تا ته پر ېږدم

دغه ستا په رنګ جهان کښی، چه ودانی بنګلې دی
د «معمار» دلاس تنا کی، د «مزدور» تودې خولی دی

داګلونه چه په بڼ کی، بهارونه ترې ساز ېږی
د باغوان دزړه په وینو، آبیاری مومی غوړ ېږی

مګرواك دبوئیدؤیی، په قسمت دباغوان نشته
دمزدور غریب تاتوبی، ستا پر مځکه آسمان نشته

لټېدلی می په زړه کښی، یوطوفان دارمانو دیء
یوطرف دځوانۍ مرګ دیء، بل حسرت ددې بېورو،(۲) دې

نه می ښوری شته پر مځکه، نه می ستوری پر اسمان شته
یوبدبخت م ژواند غریب یم، څه می قدر پر انسان شته؟

پر بستر دشګو پروت یم، جامه نه لرم په ځان کی
نیمه ساه ده چه چلېږی، ستاد، درست ژوند په سامان کښی

ډوډی(۳) ولګېدل سوری شول، په ژوندونی هډو پوست شوم
پوست بیاو چاودیء له ځله(٤) له بارانه څخه وروست شوم

ستر ګی تتې(٥) شوې له اوښکو، کولمې وچی شوې له لوږی
پوستوی می په ژوندون کی، مچان، ماشی، مېږی، شپږی

اروېدل می په وړ کینه، چه درد ونو له دواشته
د بشر په کنډواله کښی، د رنځونو اطبا شته

زما بدبخت په نصیب نشول، نه دواڅه، نه طبیب څوك
خسمانې(٦) ته می رانه غلل، د غم سرلره قریب څوك

---

(۱) خواله: رازدل (۲) بېوره: ظلم، تعدی (۲) ډوډی: استخوان سرسرین
(٤) ځول: هفته بارانك (٥) تتی: کم بین (٦) خسمانه: تیمارداری

هرڅوك كركه رانه كاندی، كنزل شوی په غربت یم
كشكی نه وای پیدا شوی، د بشر د كور، خفت یم
الهی! زه‌هم انسان یم؟ چه‌می نه‌پرېږدی څوك كور ته
یخ په‌مرگ‌هومره‌راضی كړم، چه‌می‌ستر گی‌خېژی گور ته
وینی پا ته له جریانه، ساه سړه شوه په بدن كی
ژبه و چه ستر گی هېښی، په تلخی د ز كندن كی
چاته وژاړم الهی! څوك می‌غوږ نیسی ز گېر وی ته؟
سپېدې چاودې ماینه ولاړه. چه‌حمام تو د كابی بی ته
گلالی‌زویك می‌رېږدېد، په‌ژړا پا څېد روان شو
د «غریب» دژوندمېوه‌ده، چه‌د «خان» د كور، گوروان‌شو
آه‌دخوږو زړو، درمانه! تا طاقت ور كړ هغو ته
چه‌دغره كانی یی گوری، په حسرت و سختو زړ ؤ ته
كه‌هر آه می زلزله ده، ستاد عرش په بنیاد ؤ كی
مگر آه تاثیر یی نشته، د بډایو خلقو زړ ؤ كی
آه یې مه‌بؤلی بېدردو! د مات شوی زړه ناله ده
له حسرته ډك داستان دیء، د غمو نوا فسانه ده
ارمانو نه‌دی‌چه غونځی، زما په هر مأیوس كاته كی
په‌صورت دا و ښكو راغلې، د زړه وینی په لېمه كی
الهی! وتاته ژاړم، په دا تن تنها یی كی
وداع اخلمه له ژونده، دځیگر په‌هرخبز كی كی
اوس‌می‌څوك‌په‌مرگ‌رانه‌غلل، نه‌چاشمار كړم‌په‌سړ و كی
چه‌ترخوله می‌ساه وخېژی، اختر گوره په تر بر ؤ كی
دابې ننگه‌قام تباه كړې، چه‌دورور په‌مرگ ښادی كا
كونډه‌بیا یی په میراث كی، مراد، دبل په‌نامرادی كا
درپه دربه گرزی خدایه! د یتیم به څوك غمخور شی
پلار یی تاورځنی واخیست، مؤربې‌مال دمیراث‌خورشی
څوك بې اوښې كاوروچی، څوك بې نیسی په زړه پوری
څوك بې‌لاس كادسرسیوری، څوك بې‌خواته‌په‌رحم گوری

دبې وزلو، وزله ته یی، دایتیم سپا رم و تا ته

دبېوزلو امید نشته، ستابې د ره بلی خوا ته

الهی! داوروستی ساه ده، زړه د روړ مه رښکی رښکی

څوك می سروته ناست نه دی، چه په مرگ می توی کړی اوښکی

دغه نا زمی خدایه یوسه، لږ څه سوز ور کړې وزړوته

داوصیت د نا مراد زړه دی، په عشرت مستو کو رو ته

د دولت په جام مد هوشو! په آرام سره دل شا دو!

د بېوز لو حال غوږ باسی ء، خبر اخی د نا مراد و

شکرانه د بصارت ده، چه ړانده تر لاسو نیسی

د مړ تیا شکرانه داده، چه څه وزی په ماړه سی

اسپو یلی(۷) زو یولونی، چه په نا زسره روزې ته

لږ په زړه کړه د یتیمو، څیری گرالبی، یبلی پښی ته

په چرچو، کښی د رپیا د کړه، د بیوز لو ز کند ن څه

چه نه ژوند په گېډه موړ کا، نې په مرگ و موند کفن څه

یوه روځ که زما غنچه وی، بېاولاړه ستا آستان ته

له ساړو څخه کپېږی او تو سېږی (۸) ستا د ېگدان ته

لڅ، له لوږی تاو تاو کیږی، څوك ئې نه پرېږدی بورجل ته

ډېرې مه ترته مغروره، لږې غوږ نیسه کو ربل (۹) ته

چه په آه د یتیم سوځی، د بېد ر د و کورو کلی

په سېلاب د تو دو، اوښو، رغړوی د کا نو څلی

---

(۷) اسپویلی: با ناز و نعمت پرورده (۸) توسېدل: از فرط ولع و شوق از چیزی خودداری نتوانستن

(۹) کو ربل: نالش و فریاد

الفت:

افغانستان

دهغه کتاب نوم دی چه داریانا-
دایرة المعارف د انجمن له خوا
په ۱۳۳٤ کښی چاپ شویدی
او ۳۹۸ مخه دی، ددی کتاب ټول
مضامین په اریانا دایرة المعارف
کښی داخل دی . دغه محترم
انجمن دخپلو موفقیتو نو په سلسله
کښی ددغه کتاب چاپول او نشرول
ډیرلوی او مهم قدم گڼی او حق
هم لری چه په دغه خدمت و نازیږی
ځکه چه دا کتاب له ډیرو خواو
یعنی دجغرافیې، تاریخ، معارف
ادبیاتو، طبقات الارض، حیواناتو
او نباتاتو، زراعت، تجارت
صنایعو، تشکیلاتو او نورو جهاتو
په لحاظ افغانستان په خلقو باندی
پیژنی او موثوق معلومات په لاس
ور کوی .

مونږ ددغه مفید اثر مطالعه
دافغانستان په هر لوستونکی
لازمه گڼو او داریانا دایرة المعارف
دانجمن دغه زیار او زحمت ته
په ډیر درانه نظر گورو.
که زمونږ په آرزو او تمنا کښې
یو څه اثر وی نو له دغی
علمی او فرهنگی موسسی څخه
هیله لرو چه دغه قیمتی کتاب په
پښتو هم په مستقل ډول چاپ
کړی لکه چه داریانا دایرة المعارف
جلدونه هم په دواړو ژبو فارسی
او پښتو چاپوی او پښتانه لوستونکی
هم بی برخی نه پریږدی یعنی
څنگه چه په افغانستان کښی
دنشراتو او مطبوعاتو دپاره
همدارنگه دتعلیم اوندریس
دپاره دوه ژبی پښتو او فارسی
تعین شویدی اریانا دایرة المعارف
هم په دواړو ژبو چاپیږی او دغه
انجمن هم دافادی دتعمیم په
غرض داکار کوی ځکه خپله
هیله څرگند و وچه ددغه کتاب
په مورد کښی به هم د پښتو برخه
هیره نکړی .

که دا خواهش مؤثر واقع
شی او دوی دا استدعا قبوله کړی
نو بیا دهمکاری او یوې نیمگړی
مرستی په تو گه داتذکر ضرور
گڼو چه په پښتو نسخه کښی
داخبری له نظر لاندی و نیسی:
۱ـ هلته چه دافغانستان په معارف
باندی له ۵۸ مخ نه وروسته بحث
کوی او امانیه دوره ښیی وائی
چه معارف ته له پخوانه زیاته
توجه وشوه او ډیرنوی مکتبونه
په پخوانیو مکتبونو زیات شوه
لکه دار المعلمین، حکام،
دفتری اصول، قضات، مساحت.
دښیښو جوړولو او دسمتو جوړولو
مکتبونه چه دغودو وورستیو
مکتبونو د کورسونو ماهیت درلود
همدارنگه درسامی او آرټ
دپاره هم یو مکتب افتتاح
شو، د ښځو تعلیم ته زیاته توجه
وشوه، په مساجدو کښې دلویانو
کورسونه جوړ شوه چه په
صوت غازی ئې شهرت درلود او
پخپله دوخت پادشاه هم د تدریس
عهده په عهده لرله .

عهده په عهده لرل به طباعتی
غلطی وی زه ور سره څه کار
نلرم مگر داچه په دغه وخت
کښې دپښتو پاللو نهضت او دپښتو

مر که هیڅ نه ده یا ده شوي
یوه ډېره مهمه فرامو شي ورته
ویلی شم، ځکه چه دا مهم اقدام
او ستر خدمت هیڅکله د ښیښو
او سمتو جوړولو له کورسونو نه
وړو کی کار نه و، او دا کابرو له
کورسونو څخه ئی هم اهمیت کم
نه دی، نو په دغه برخه کښی هم
باید څه وویل شی او دا نیمګړتیا
رفع کاندی.

۲- په همدغه بحث کښی چه
نادرشاهی دوری ته راځی او
داعلیحضرت شهید عرفانی خدمتونه
یادوی، دانجمن ادبی تاسیس
د کابل مجله، د هرات مجله نه
هیروی او باید چه هېرئی نکړی
ځکه چه دغه راز کارونه دخپل
معنوی قیمت په لحاظ ډېر مهم
دی او هر څوك ورته په قدر گوری
مگر کوم شی چه په دغه مورد
کښی ئی یادونه ډېره ضرورده
هغه د اعلیحضرت پښتو پالنه ده
چه د دغه کار دپاره ئی په قندهار
کښی ښاغلی محمد گل مومند
ته هدایت ورکړ چه د پښتو انجمن
جوړ کړی او یوه پښتو مجله هم
راو باسی او دا کار د مملکت
د علمی او ادبی احتیاج په اثر
دومره مهم او دقدر وړ دی چه
هیڅکله دهیرولو وړ نه معلومیږی.

که چیری دافغانستان کتاب
بیا چاپیږی دا تذکر باید ارومرو
وشی او دغسی مهم واقعات
قید شی.

۳- داعلیحضرت معظم المتوکل-
علی الله په عصر کښی چه معارف
پالنه یادوی دلته هم دا کابرو
کورسونه، د پولیسو کورس
یادیږی مگر د پښتو نهضت او
د پښتو برخه په وزارت معارف
کښی یا د پښتو ټولنی تشکیل او
تاسیس بیخی له یاده وتلی دی چه
باید په دغه ځای کښی ئی ارومرو
یادونه شوی وای.

٤- په ۳٤ مخ کښی چه په افغانستان
او دورهٔ اسلام باندې بحث کیږی
نو ویل کیږی چه: «... په دولسم
او دیارلسم هجری قرن کښی
دافغانستان کلمه له یوه کوچنی
قالب څخه راوو تله او په تدریج
ئی د (خراسان) ځای و نیوه او بالاخر
زمونږ د مملکت ملی او رسمی
نوم و گرزید.»
زه دافغانستان کلمه د یوه کوچنی
قالب مولود نه گڼم او دافغانستان
ظرفیت راته له خراسان څخه کم
نه معلومیږی که دغه راز جمله
د نورو له قلمه وتلی وای او زمونږ
خپلو لیکوالو نه وای لیکلی یقیناً
به داعتراض وړوه.

په هر حال هغه خراسان چه څه
برخه ئی اوس دایران یو جزء
دی او پخواهم یو وخت ایرانیانو
دا نوم دخپل مملکت د یوه طرف
په حیث استعمالاوه ماته دافغانستان
له کلمې نه ښه نه معلومیږی
زمونږ له اوسنی حال او موقف
سره دافغانستان عنوان ډېر مناسب
معلومیږی چه باید په کوچنی
نظر ورته ونه گورو.

٥- له ١٦٤ مخ څخه چه
دادبیاتو او شعراء بحث شروع
کیږی او په دغه کتاب کښی
ډېره ستره برخه لری یعنی له
نیم کتاب نه هم زیاته برخه دغه
بحث نیولی ده او تقریباً اوه سوه
تنه پکښی شمېرل شوی او یاد
شویدی مگر ټول دفارسی ژبې
شاعران دی او یو هم د پښتو شاعر
پکښی نشته هر کله چه دا بحث
دافغانستان له عنوان لاندی
راغلی دی او کوچنی عنوانونه ئی
هم دافغانستان د هر قرن د شعراء
ښودنه ده او د افغانستان ادبیات
په هره دوره کښی ښئی نو دا بحث
پدی لحاظ ډېر نیمګړی دی چه
په افغانستان کښی پښتانه شعراء
هم په سوو تېر شویدی چه هغوی
هم دافغانستان دی او افغانستان
د هغوی گران او خوږ وطن دی

مگر پدی بحث کښی هیڅ برخه نلری باید دافغانستان فارسی زبان اوپښتانه شاعران یوځای اوپه هر قرن کښی ښودل شوی وای اودامعلومه شوی وای چه په افغانستان کښی دواړه ژبی شته اوپه دواړو ژبو کښی ادیبان اوشاعران لری .

همدارنګه په دغه برخه کښی چه کوم کتابونه یادشوی اوښودل شویدی یادادبی دورو په باب څه بحثونه موجود دی پښتو اوپښتانه پکښی بیخی بی برخی دی اودیره عجبه معلومیږی چه په افغانستان کښی د پښتو یوشاعر او یو کتاب هم دیا دولو ورنه دی که چیری دآریانا- دایرةالمعارف له انجمن سره دافکر وی چه پښتانه شعراء او کتابونه یادپښتو ادبی تطور او تحول به دپښتو یاپښتون له عنوان لاندی د(پ)په ردیف کښی ښئی زما په عقیده دغه بحث دافغانستان له عنوان لاندی ډیر ضرور دی ځکه چه د ملت او مملکت پیژندنه ورپوري تړلې ده که چیری د پښتونستان له عنوان لاندی هغه پښتانه شعراء چه له افغانستان څخه دباندې دی یادشی نامنا سبه نه ده، مګر دافغانستان شعراء پښتانه وی او که فارسی زبان باید دافغانستان له نامه لاندی یادشی نه په بل ځای کښی ، بلکه زه لاداوایم چه دپښتو هغه شاعران چه داوسنی افغانستان له حدودو دباندی دی لکه خوشحال خان او رحمان بابا هغه هم باید دافغانستان له نامه لاندی راشی لکه چه دفارسی ځینی شاعران دلرغونی افغانستان په اعتبار اخستل شویدی او دهغوی مولد او مسکن له ننني افغانستان نه بهر دی .

زه دا افغانستان د کتاب دلیکونکو تتبع او لټون دافغانستان دفارسی شاعرانو په برخه کښی ډیر قدر ور بولم ځکه چه ځینی داسی کسان هم تر ښه نه دی پاته چه محض یو بیت ئې لاس ته راغلی اود احوالو او آثارو پته ئې هیڅ نشته لکه: (و داعی) او نور. مګر داچه دپښتو شعراء په برخه کښی ئې له پښتانه شعراء او دښاغلی رشتین دپښتو ادب له تاریخ څخه هم هیڅ نه دی اخستی ما په تعجب کښی غور ځوی او هیڅ نه پوهیږم چه له دغسی باریک نظر څخه د پښتو ډیر مشهور او معروف شاعران اود دیوان خاوندان څنګه پاته دی ؟

هر کله چه مونږ امیرخسرو- دهلوی، امیر علی شیرنوائی اود بخارا نور الدین محمدعوفی او احمدالکافی دافغانستان په شعراء کښی نیسو نو پیرمحمد کاکړ، امیر کروړ، شمس الدین، عبدالرحمن او حمیداو په سلهاؤ تنه نور ولی هیروو ؟ ډیره ښه ده چه سید صدیق خان گوهری (خدای دی وبخښی) له یاده نه دی وتلی او په دغه تذکره کښی راغلی دی، کشکی حاجی ولی محمد مخلص هم چه دقندهار ډیر مشهور شاعر دی او له گوهری صاحب څخه دمخه وفات شویدی له یاده نه وای وتلی .

دافغانستان د کتاب په باب دغه یادونی ددې دپاره وشوی چه که دا کتاب په پښتو هم ترجمه شی دغه نقایص پکښی رفع شی اود کتاب دتکمیل دپاره یوڅه پری علاوه شی .

ښاغلی سپین تمان:

درو ښانیانو مجاهدی

دبابر تر مړینی وروسته په (۱۵۳۰ع کال) چه د ده زوی همایون پاچا شو دپښتنو سره ئی خوراسخت مخالفت شروع کړ پښتنو هم دخپل فطری حق آزادی دساتلو دپاره دهغه مقابله شروع کړه، او شیرشاه سوری د پښتنو ننګیالی مشر عملاً دهمایون په مقابل کی ودرید، اولس کاله ئی په ډېره مېړانه پښتنی ننګه پرځای کړه، حتی په یوه جګړه کی خوئی د ګنګا دسېند پرغاړه همایون ته داسی سخته ماتی ور کړه، چه همایون له ډېرې وار خطا ئی څخه خپل ځان له آسه سره د ګنګا سیند ته وغورځاوه او که ئی «نظام» نامی سقاو په دادنه وای رسیدلی ژوندئی تمام ؤ. خو بیاهم چه ژوندی «اګری» ته ورسید د پښتنو هیبت او قوت داسی سراسیمه او پریشانه کړی و، چه هیڅ ځمکې ځای نه ور کاوه، او نه دشاهی پرتخت کښېناستلی شو، په یوه منډه له هندوستانه وؤت، افغانستان ته راغی. دلته ئی هم ټېك و نشو همداسی سم ئی ایران ته منډه کړه او دشاه طهماسپ دربار ته ئی پناه یووړه.

ترڅوچه شیرشاه سوری ژوندی و، همایون بیادافغانستان او یا دهندوستان نوم په خوله وا نخیست.

دپښتونستان یوشاعر په دی باب کی څنګه ښه وایی:

ای شیرشاه! ته دپښتون دخوی مثال یی
ستا په شان شاهی سپاهی نشته جهان کی
په مړانه، په غیرت کی، په بدل کی
یو ثانی ستا خوشالخان دی په افغان کی
اوس هم داخاموشه غرونه خالی نه دی
له مزرو ځنګل خالی نه وی جهان کی
که «بابر» دی بیا په قار «اودهی» پښتون ته
څوك «شیرشاه» به رب پیدا کړی همایون ته
دافغان په ننګ به بیا وتړی تو ره
تاج و تخت به بیا په سر کاندی پښتون ته

هغه وخت چه شیر شاه سوری تر پنځه کاله پاچهی وروسته وفات شو، همایون دایران دپاچا په مرسته بیرته هندوستان ته راغیء او یو کال پس مړ شو.

دهمایون تر مړینی وروسته دهغه څوارلس کلن زوی اکبر پر تخت کښیناست او ده هم د پښتنو سر مخالفت شروع کړ، خصوصاً وی غوښته چه دپښتونستان آزاد پښتانه تر خپل حکم لاندی کړی.

هغه ؤ چه د کشمیر تر فتح وروسته په (۱۵۸۶ ع کال) له خوراډېر لښکر سره اټك ته راغی او خپل رضاعی ورور «زین خان کوکه» ئی دسر لښکر په حیث او «راجا بیربل» ئی د هغه نائب وټاکه، او ډېر مجهز عسکر ئی سره دډېرو پیلانو او نورسامان

په‌لاس‌ور کړه‌او امرئی‌و کړچه
پښتانه‌باید‌محکوم کړی‌. دا کبر
لښکر داستعمار دپاره‌او پښتا نه
دخپلی آزادی‌ دسا تلو دپاره
جنګیدل‌، څنګه‌چه‌خدای دحق
ملګری‌دی نوپه‌ډېروجنګو کی
پښتا نه غالب‌او دا کبر لښکر
مغلو ب‌شول‌، حتی په پا ی کی
دسوات‌او‌باجوړ ترمنځ‌په‌یوه تنګه
دره کی پښتنو د د ښمن لښکر
محاصره کړه‌، اوله‌لوړوڅو کو
څخه‌ئی ددېرو باران وربا ندی
شروع کړ، تو ر ي ئی‌له تېکو
راویستلی‌اوپرد ښمن‌ئی‌دزمریو
په‌شان‌حمله‌و کړه‌، ددښمنا نوڅخه
ئې د تېښتی لارو ر که کړ ه
پیلان ، غاتری‌، آسان او نور
حیوانات ئې ګډوډ دباجوړ په
شپلو کی دوری او هیسته سره
ځغا سته ، څنګه چه شپه و ه
دمتجاوزینوزیات لښکرتباه‌شو،
اته زر ه تنه سپا هیا ن ا و څو
سر داران ئې ووژل شول ، چه
په هغو کی‌یوهم‌، « بیر بل »ؤ .
چه‌دا کبر په‌دربار کې ئې ډېر
شهرت درلود ، اوپه دی جنګ
ووژل‌شو، پخپله‌زین‌خان دشپی
په‌توره‌تیاره کی‌و تښتېده‌او ځان
ئې‌په ډېربدحال دا کبردربارته
ور ساوه .

په‌همدې‌وخت کی‌دپښتونستان
په روحا نیو نو کی یو سړی
پیداشو چه له‌روحانیت سره‌ئې
قومی سیاست هم درلود ، او په
خورا کلک‌عزم ئې دمتجاوزینو
مقابلې ته ملاوتړله ، اویولوی
قومی تحریک ئې شروع کړ .

داسړی «بایزید» نومیده‌چه
وروسته د«پیر روښا ن» پنامه
یاد او مشهور شو .

پلارئې عبدالله نومیده اصلا
دقندهار او په قوم او ر مړ ؤ
چه وروسته بیا د پښتونستا ن
ګانی ګرم ته راغیء.

پیر روښان متدا وله علو م
له ملا سلیما ن کا لنجر ی
اوملا پاینده څخه لو ستلی وه
دتصوف اوفلسفی‌دپاره ئې هند
تر کستان اوسمرقندته سفرونه
کړ ی و ه ، څو په پا ی کی
بوسیاسی عالم اومتصوف شو .

څنګه چه‌ئې‌پرپښتنو باندې
دپر دیونجا و ز ز غملا ی نشو
نودمتجاوز ینو مقا بلی ته ئې
ملاوتړله ، او څنګه چه ئې په
پښتنو کی روحانی نفوذ درلود
نوپه پښتنو کی‌لاډ‌ېرپښتنی‌روح
تقویه کړ ، اودوی ئې دپردیو
متجاوزینو مقاومت ته آما ده
کړل ، او خپلوپیروانوته‌به‌ئې
تل دا تلقین کا و ه چه له
متجاوزینو څخه ځا نو نه
وژغوری‌ء او ورځنی اجتنا ب
و کړی‌ء .

حیات‌افغانی‌لیکی‌چه‌بایزید
په ښکاره خپلو پیروانوته‌ویل
چه: «پښتانه‌باید‌دپردیوداطاعت
کړی‌ و نه منی اوځا نو نه
آزاد وسا تی .»

په دې ترتیب پیر رو ښا ن
دهر پښتو ن په رو ح کی که
زورؤ ، که‌وور ، که‌نرو ، که
ښځه دپردیو متجاو ز ینو ، او
استعمار چیانو نفرت او کر که
ځای‌او‌دپښتونستان ډېر پښتانه
ئې‌دتجاوزاو استعمار پرخلاف
پاڅول ، پیر روښان نه یوا زی
دمتجاوزینو مخا لفت‌غرض ؤ .
بلکه پیرروښان غو ښته چه په
پښتونستان کی دپښتنوحکومت
تنظیم او جوړ کړ ی .

حتی تر پیر روښان وروسته
دده‌زوی‌جلال‌الدین خپل‌ځان
دپښتنو پاچا ګانه ، لکه

اخوند درویزه چه دهغه دخولې لیکی:

« . . پادشاه دپښتانه یم -
پښتانه راپسی ځی -
زه به ماته دا کبر دروازه کړم. »

دهمدې مهم او ملی مقصد دپاره پیرروښان ځانته خزانه درلودله او محصولات ئې ټولول. هغه مالونه چه دده پیروانو را ټولول پنځمه برخه ئې په بیت المال کی ایښودله، او دضرورت پروخت ئې مستحقینو ته ویشل.

دهمدی قومی او ملی مقصد دتبلیغ دپاره په ئې ټول پښتونستان کی خپل پیروان تیت کړی ؤ، چه دمتجاوزینو او استعمارچیانو پرخلاف، دپښتنو دقومی حکومت تبلیغ وکړی، چه له هغې جملی څخه دا کسان ډېر مشهور دی:

لومړی - ملا پاینده چه دخپل وخت لوی عالم ؤ.

دوهم - امته خان اکوزی.

درې یم - ارزانی - دپښتو مشهور شاعر او ادیب.

څلرم - دارزانی ورور.

پنځم - ملاعلی محمد مخلص دارزانی بل ورور.

شپږم - ملادولت مهمندزی او نور....

پیرروښان لومړی پښاور او اشنغر ته ولاړ، هلته ئې ملا دولت خان مهمندزی چه په هغه ځای کی ئې ښه نفوذ درلود دځان ملګری کړ، او «کله ډیر» کی ئې ځای ونیو او دکابل دمغولی حاکم پرخلاف ئې تبلیغ شروع کړ، او دکابل پښتنو ته ئې دعوتنامې ولېږلې.

دکابل مغولی صوبه دار دپیرروښان دمقابلی دپاره جلال آباد ته ولاړ او له خورا لوی لښکر سره ئې پر اشنغر باندې حمله وکړه، او ترسختو جنګو وروسته پیرروښان ګرفتار شو، او بندی کابل ته را وستل شو خو ډېر ژر د ننګیالیو پښتنو په مرسته له بنده خلاص شو، او دپښتونستان تیرا ته ولاړ، او هلته ئې هغه پښتانه چه دمتجاوزینو په چلونو او رشوتونو غولیدلی ووښه وترټل، او لکه چه تاریخ مرصع لیکی دتیر ۱۳۱ سوه تنو پښتنو خپل لاسونه وتړل دپښېمانۍ او تسلیمۍ په ډول پیر روښان ته را غلل او خپل ځانونه ئې دده اختیار ته تسلیم کړل،

پیرروښان تیرا دخپلو ملی تحریکاتو مرکز وګرزاوه، او له هغه ځایه ئې دمتجاوزینو سره جهاد شروع کړ او دڅوزرو سپرو سره ئې پر ننګرهار یرغل وکړ او «بړوه» ئې ونیو له هغه ؤ، چه بیا دکابل مغولی صوبه دار محسن خان دډېر زیات لښکر سره دپیر روښان مقابلی ته راغی او تر سخت جنګ وروسته دشینوارو دتور راغه په حد کی په داسی حال کی چه ټول قوت ئې پای ته رسېدلی و، دکالاپای په موضع کی جل وواهه او له تندې په حق ورسید او په اشنغر کی ښخ کړ شو، دپیر روښان مرګ د(۹۹۰ ه او د۹۹٤ ه) کلو ترمنځ تخمین شوی دی.

جلال الدین دپیر روښان زوی؛

ترپیر روښان وروسته دده ۱٤ کلن زوی جلال الدین دپښتونستان دپښتنو مشر شو، او ډېر شهرت ئې وموند.

دهغی دورې مؤرخینو لکه ابوالفضل او خافی خان او بدوانی او نورو دی د «جلاله» پنامه

یاد کړی دی او وایی چه اکبر پاچا دی په دې نامه یاداوه.

فانی کشمیری دی داسی ستایی:

«... بعداز بایزید جلال الدین برتری یافت وبغایت مستقل شد عادل وضابط بود ...»

دهم دمتجا وزینو سره په میرانه ډېر جنګونه وکړه اود اکبر مشهور وسپه سالارانو ته ئې سخت شکستونه ورکړه.

جلال الدین له تیرا او دپښتونستان له نورو برخو څخه شل زره پلی او پنځه زره سپاره راغونډ کړه، چه اکثره ئې اپریدی، یوسفزی، مومند، غوریه خیل او نور پښتانه وه.

لومړی ئې دمتجاوزینو یو تیولدار سید حامد بخاری چه په پیښاور کی او سیداو پر پښتنو ئې ډېر ظلمونه کول وو اژه، یا نو د نور و متجاوزینو اوغاصبینو پر خلاف پاڅید،

اکبر دپښتنو مقابلی ته خپل یوخونخوار قوماندان چه: «کنورمان سنګ» نومیده دخواجه شمس الدین او نور ډېرلوی لښکر سره په (۹۹٤هـ) کال د پښتونستان خوا ته راواستول، دمتجاوزینو لښکر که څه هم زیات و، خو پښتنو ځلمیانو په ډېره میرانه دهغوی مقابله وکړه، او د خیبر په دره کی ئې دپښتنو خورازیات دښمنان ووژل، او یا ئې ژوبل کړل، داخبر چه اکبر ته ورسید ډېر په غصه شو او ترهغه ئې زیات لښکر د پخوانی لښکر دملاتړ دپاره ولېږه.

پښتنو دجلال الدین په مشرتوب پوره یو کال دا کبر دلښکر و سره جنګونه وکړه او دا کبر دې ډېر او متجاوز لښکر هم ونه شوه کولای، چه د پښتنو سرونه ځان ته تیټ کړی.

په (۹۹۵ هـ) کال، اکبر نورزیات فوج دښګنبوله لاری راولېږه، او دمان سنګ لښکر ئې دبګرام خواته واستاوه چه په ډېر زور له دووخو او، د پښتنو پرمجاهدینو حمله وکړی، خوجلال الدین له خپلو زرو سپرو او پنځلسو زرو پلیو سره پرهغوی یرغل وکړ، او ډېر خونړی جنګ وشو، چه په دې جنګ کی یونیم زرو پښتنو دخپل وطن او خپلی آزادی دساتلو په لاره کې خپل سرونه قربان کړل؛ متجاوزینو ته هم زیات تلفات ورسېدل.

تر دې جنګ وروسته هم پښتنو دپردی حکومت اطاعت ته غاړه کښې نښوده او لائی پښتنی وینی په جوش راغلې او پښتنی احساسات ئې مشتعل شول.

په دې وخت کی جلال الدین دخپل تحریک مرکز تیرا وتاکه او له هغه ځایه به ئې هر کله دمتجاوزینو پر لښکرو حملې کولې.

په (۹۹٦ هـ) کال ئې دسوات او باجوړ په شاوخوا کی دمتجاوزینو د لښکر و سره سخت جنګونه وکړه، او وروسته ترهغه چه دد ښمن لښکر ئې شوې شو کړ، بیرته تیرا ته راغی، په دې وخت کې اکبر خپل یوبل قوماندان چه صادق خان نومیده سره دنوی او هو سالښکر دتیراخوا ته واستاوه - بیا دپښتنو او اکبر دلښکرو ترمنځ سخت جنګونه وشوه، پدی جنګو کښی دجلال الدین یوزړور ملګری چه ملا ابراهیم

نو میده د دښمن پلاس کښیوت
مګر پخپله جلال الدین د کاڼی کرم
له لاري توران ته ولاړ
خو هلته هم آرام ندی
کښینا ستلی - څلور کاله
وروسته بیر ته تیرا ته راغی
او بیائي د متجاوزینو سره سخت
جنګونه وکړه، څو په (۱۰۰۰ هـ)
کال اکبر بیا خورا ډیر فوج
د جعفر بیګ او آصف خان
او قاسم خان کابلی په مشرۍ
دده مقابلی ته راولیږه او تر ډیرو
جنګو وروسته د پیر روښان
د کورنۍ څو تنه د مغولو د لښکرو
په لاس ورغلل چه یو په هغو کښی
وحدت علی، یا واحد علی د جلال الدین
ورور هم ؤ، خو بیا هم د پښتنو
د آزادی خواهۍ احساسات
مړه نشوه، اکبر پوه شو چه
د پښتونستان آزادی خوښونکی
پښتانه په زور او قوت څوك
تابع کولی نشی نو ځکه د فریب
او چل له لاری پښتنو ته راوړاندې
شو، ځنی بی ننګه پښتانه ئی
په رشوتونو د ځان کړه
او د جلال الدین پر خلاف ئې
پاڅول.
هو؛ پردی د ښمنان چه تل

پر پښتنو کامیاب شوی دی
له همدې یوې لاری څخه چه
پښتانه ئې په خپل منځ کښی
سره اچولی دی که دانه وی هیڅ
قوت پر پښتنو بری موندی
نشی، همدا چل دی، چه وروسته
انګریزانو هم له هغه څخه
کار واخست، او پښتانه ئی سره
ټوټی ټوټې کړه، اکبر لومړی
ملك حمزه اکوزی بیننګه کړ
د جلال الدین پر خلاف ئې پاڅاوه
خو په لمړی جنګ کښی چه
په «سور کاوی» و شو ملك
حمزه ماتی وکړه بیا چه مغولو
نور لښکر دده مرستې ته
راواستاوه په دوهم جنګ
چه په «مینی» و سوهم حمزه
وتشتیده خو بل وار اکبر خورا
ډیر رشوتونه په پښتنو کښی
تیت کړه او پدې واسطه ئې
ډیر پښتانه د جلال الدین پر خلاف
پاڅول او د جلال الدین قوت ئې
کمزوری کړ، نو همدا ځای
دی چه خوشحال خان وائی:
په بل غشی بل ټوپك ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم خو بیا پخپل ټوپك یم
ځینو بی ننګو پښتنو چه
د اکبر په رشوتونو تنډ شوی وو

د ملی مجاهد جلال الدین
ملائې ماته کړه او جلال الدین
شکست وخوړ - دده دوه
ورونه شیخ عمر
او خیر الدین د لازاکو
طائفی په تور بېله کښی ووژل
چه اوس ئی قبر و نه هلته
شته او دده بل ورور نور الدین
چه د جنګ له میدانه وتلی و
څو تنو مومند و د مغولو په
تحریك وواژه خو پخپله جلال الدین
بیر ته تیرا ته ولاړ مګر دې
ملی مجاهد ته آرام کښینا ستل
لو یه ګناه ښکاریده په
(۱۰۰۷ هـ) کال ئی د توری
په زور د غزنی ښار د مغولو
له قبضی خلاص کړ
او تر دوو کالو پوری
دده په لاس کښی و، څو په
(۱۰۰۹ هـ) اکبر بیا خورا ډیر
لښکر دده مقابلی ته واستول
او اوه ورځی په غزنی باندی
سخت جنګونه وشوه څو په پای
کښی جلال الدین د «شادمان»
هزاره له خوا ټپی شو له همدی
سببه ئی غزنی پریښود درباط
غره ته و خوت مګر د مغولو له
خوا تعقیب شو او د مراد بیګ

نامی په لاس په شهادت ورسیده
سرئی داکبر در بارته واستاوه
او پدی ترتیب دهند د مغلو
متجاوز حکومت د پښتونستان
د آزادی خواهۍ یوه روښانه
لمبه مړه کړه خو دا کله
کیدای شوه دده .له مرګه
سره ډیرې نورې لمبې پورته شولی
او چا چه د پښتنی مورشیدی
رودلی وی هغه هیڅ کله دپردیو
د غلامۍ جغ پر غاړه منلی
نشو نو ځکه تر جلال الدین
وروسته هم د آزادیخواهۍ
هنګامه هم هغسی توده پاتی شوه

احداد د روښان نمسی:

و روسته تر هغه چه جلال الدین
خپل ژوند د پشتونستان
د آزادۍ په لاره کښی قربان
کړ د مغولو دا خیال و، چه د پښتنو
د آزادی خواهۍ احساسات به هم
خاموشه شی مګر دوی نه
پوهیده چه د پښتنو آزادی خواهی
په کوم شخص پورې اړه نه لری
او دا هغه حس دی چه دهر
پښتون په خټه کښی اغېزلی
شوی دی جلال الدین چه شهید
شو د پښتنو د آزادیخواهۍ مشعل
«احداد» نامی چه د شیخ عمر
زوی او د پیر روښان نمسی، او
د جلال الدین وراره او زوم ؤ
پلاس کښی واخست او د متجاوزو
مغولو په مقابل کښی ئی
د مخالفت بیرغ پورته کړ،

فانی کشمیری لیکی:

«...مردی بود عادل و ضابط
و بر آئین اجداد رفیع المقدارش
ثابت..» هغه وخت چه احداد میدان
ته راوؤت داکبر د دوری پای
او د جهانګیر د عصر ابتدا وه، ده
ډیر پښتانه په ځان راغونډ
کړه او په (۱۰۳۰ه) کال ئی
خپل ځان کابل ته راورساوه
او دننه په ښار کښی ئی
د مغولو د لښکر وسره سخت
جنګونه وکړه، پدی جنګو
کښی دده غښتلی ملګری چه
«یارکی» نومیده ووژل شو
جهانګیر قلیج خان د احداد د
مقابلی د پاره وټاکه.
جهانګیر د هغه جنګ شرح چه
دلوګر په څرخ کښی ئی د احداد
سره کړی دی پخپل قلم داسی
لیکی: «...احداد افغان که از
دیرباز در کوهستان کابل در
مقام سرکشی و فتنه انګیزیست.
و بسیاری از افغانان آن سرحد
بر و جمع شده اند و از زمان والد
بزرګوارم (اکبر) تا حال که
سال دهم جلوس من است افواج
همیشه بر سر او تعیین بوده اند...»
په یوه جنګ کښی چه د جهانګیر
د لښکر و او احداد ترمنځ وشو
قریباً دری زره پښتنو خپل ځانونه
تر خپل وطن او خپلی آزادۍ
قربان کړه او په خپله احداد
قندهار ته ولاړ په (۱۰۳۲ه) کال
بیا احداد د مغلو په مقابل کښی
پورته شو او د مهابت خان د زوی
امان الله سره ئی چه د مغلو قوماندان
و، سخت جنګ وکړ خو څه سو به
ئی پراخه نشوه له هغه ځایه تیراته
ولاړ په (۱۰۳۵ه) بیا احداد د
پښتانه سره راغونډ کړه او پر مغلو
ئی حمله وکړه خو دا پلا د جهانګیر
خوراډیر لښکر د خواجه ابوالحسن
د کابل د حکمران د زوی ظفرخان
په مشرۍ د احداد د مقابلې ته
ولیږل، هغه ؤ چه تر ډیر سخت
جنګ وروسته د پښتنو ننګیالی
مشر احداد د «نواغر» یا د
«اواغر» په علاقه کښی د مغلو
د متجاوزو لښکرو له خوا شهید شو.
وائی چه دده تر شهادت وروسته
د مغولو لښکر دده په قلا

ورتنه وتل هلته بل څوك نه وه يواځی
د احداد يوه پيغله پښتنه لور
گرزيدله خو څنگه چه د مغلو
كوم سپاهی غوښته هغی ته
لاس واچوی هغی ننگيالی
پيغلی خپل مرگ ترژوند
ښه وباله مخ ئی پټ كړ د قلا
له ديواله ئی ځان د باندې
واچاوه او پدې ترتيب ئی د پښتنو
پيغلو ننگ پر ځای كړ او
تردی چه د دښمن په لاس كښی
بندی شی خپل ژوند ئی
تر پښتنی ننگی قربان كړ او
د پښتنو غليمانو ته ئی وښودله
چه په پښتونستان كښی كه
د پښتنو يوه نجلی هم پاته شی
هغه د پردی حكومت اطاعت
منلای نشی او د غلامی
ترژوند خپل مرگ شرف گڼی؛
د احداد سرئی له تنه جلا كړ
او د جهانگير دربار ته ئې
واستاوه؛ جهانگير د دې
فتحی په نسبت ښه مجلل
جشن جوړ كړ.

عبدالقادر د احداد ی زوی:
تر احداد وروسته دده زوی
د پښتنو مشر شو او د متجاوزو
مغلو مخالفت ته ئی ملا وتړله
پدې وخت كښی د هند د مغلو
پاچا شاهجهان ؤ دې پاچا
په (۱۰۳۷) كال د كابل
مغلی صوبه دار ظفرخان ته
امرور كړ چه عبدالقادر
د مغلی حكومت تابع كړی
خو عبدالقادر لا د مخه پر
ظفرخان حمله وكړه او دهغه
ټول مال ئی ولجه كړ، او د ظفرخان
ډير كسان ئی ووژل، يواځی
د ظفرخان كډه سلامته خلاصه
شوه - دا جنگ د تيرا په
ضرمانه دره كښې وشو بيا چه
په پېښاور كښی كمال الدين
پښتون د خانجهان لودی په
طرفداری پورته شو
عبدالقادر هم په (۱۰۳۹ ه)
كال د كريمداد او محمد زمان
د احداد د تره د زامنو سره پښتانه
راغونډ كړه او د كمال الدين
ملا ئی وتړله خو په (۱۰٤٤ ه)
كال د امجاهد د كابل
د صوبه دار سعيد خان په لاس
كښيووت او د شاهجهان
دربار ته ئې واستاوه او
شاهجهان نفی البلد كړ او په
(۱۰٤٦ ه) كال كښی وفات
او په پښاور كښې ښخ شو.

اله داد د جلال الدين زوی:
اله داد د پيررو ښان لمسی هم
د متجاوزو مغلو پر خلاف
ډير جنگونه وكړه
صمصام الدوله ليكی:
«... اله داد شخصی بود دلاور
بامروت ونيكو فكر وراست
ودر تهذيب اخلاق بی همتا
وهيچ صوبداری بدون مشورت
او كار نميكرد وهمه مردم
فدوی او بودند اخيراً
شاهجهان از نفوذ وی در دكن
ترسيد، و بعد از وفات
در شمس آباد ناندير در باغ
خود مدفون گشت» د ده زوی
او ورور لا د جهانگير په
وختو كښی په (۱۰۲۸ ه) كال
د جهانگير په لاس ورغلی او
د گواليار په قلا كښی بنديان
وه په آخر كښی اله داد هم
د مغلو په لاس ورغی او
د جهانگير دربار ته ئې بوته
جهانگير دی هم نفی البلد كړ
او د شاهجهان په وختو كښې په
دكن كښی اوسيده او د مغولو
له خوا څلور زره سپاره او د
«رشيد خان» لقب ور كړ شوی
ؤ په (۱۰۵۸ ه) كال وفات شو.

کریمداد دجلال الدین زوی:

داهم دپیر روښان نمسی ؤچه
غوښته ئې په (۱۰٤۷ هـ) کال
داشنغر پښتانه سره راغونډ کړی
تیر اته ولاړ شی او هغه څو
بی ننګه ملکان له منځه واخلی
چه دشاهجهان لـه خواتنخا ګانی
اورشوتو نه ورمقرر ؤ لکه :
ملك نور، ور کزی اوشاه بیګ
اپریدی او نور... د کابل مغلی
صوبدار سعید خان له پښاور
څخه پنځلس زره تنه سپاره
اودوه زره پلی دیعقوب کشمیری
په مشری د ده مقابلی تـه
راواستول ډیر بیګناه پښتانه ئې
ووژل او ډیر کورونه ئې وران
کړل. او ډیرو بی ننګو ته ئې پیسې
اورشو تو نو ور کړه چه
کریمداد په لاس ور کړی هم هغه
وچه کریمداد دپیسو اورشو تو نو
په مقابل کښی د مغلو پـه لاس
ور کړ شو اود (۱۰٤۷ هـ) کال
دروژی په میاشت دشاهجهان په
امر په پښاور کی ووژل شو
تر کریمداد وروسـته
دجلال الدین دوه نور زامن
چه هادیدادخان او الهام دادخان
نومېدل شاهجهان له دې ویرې
چه په پښتونستان کښی دمخالفت
جنډه پورتـه نکړی پخپل
دربار کښی د نظر بند پحیث
ساتل او څه منصب او معاش ئې
هم ور کاوه، میرزاخان انصاری
دپښتو مشهور شاعر هم دپیر روښان
د کورنۍ څخه ؤ او دنور الدین
زوی ؤ-دی په (۱۰٤۰ هـ) کال
د دکن په جنګ کښی شهید شو
او د خان جهان لودی چه
دشاهجهان په مقابل کښی جنګیده
تینګ ملګری ؤ ؛ پدی ترتیب
دپیر روښان تولې کورنۍ خپل
تول ژوند دپښتونستان او پښتنو
دآزادۍ ساتلو په لاره کښی
وقف کړی ؤ او دا پـه
پښتونستان کښی د مغلو دتجاوز
په وخت دپښتونستان د یوې
کورنۍ دفدا کارۍ نمونه ده
که نوی د پښتونستان په هر ګوټ
کښی همدا شان د هند د مغلو
په خلاف دپښتنو مخالفتونه او
جنګونه جاری وچه د تولو
واقعاتو ذکر ځانته کتاب غواړی

مسلم لیگ :

په عالی محکمه کښی دخان عبدالصمد خان

بیان

په دې وخت کښی مونږ دې دپاره د برطانوی حکومت سره مجادله کوله چه مونږ په دې ذریعه دقومی تعمیر دپاره دعمل لیاری اواری اوخپل مشکلات لری کړو؛ لیکن چه د صحیح کار کولو موقع رانژدې شوه نو په دغه وخت کښی مونږ د هغو ایالتی حکمرانانو؛ سردارانو، دجرگی د ممبرانو او دغه راز نورو داسی طفیلی عناصرو سره مخامخ شو، چه ددغه راز خلکو شمېر په بلوچستان کښی لږ نه دی داډول خلک او افراد دحکومت دمستبدانه اقداماتو داجرا دپاره یواځی دیوې آلې او وسیلې په ډول نه استعمالیدل بلکه دا یو داډول خلک و، چه دوی به د برطانوی استعمار د تخلیق دپاره د حاکمانو د وینا د منلو او د هغو دخوشحالولو دپاره هروخت د هر ډول ډیرو ذلیلو او سپکو خدمتونو دپاره حاضر او چمتوو،

د حکومت دې غوړه مالانو دحکومتی افسرانو په اشاره په خلکو ډیر محصولونه کښیښودل او دعوامو په خلاف ئې د تشددانه قوت څخه کار اخیسته دیو قومی تحریک د پاره له دې ډول نادودو څخه سترگی پټول هم یو ناممکن کار و، نو په دغه اساس مونږ د ځینو سردارانو اوخانانو په خلاف په جنگ پیل وکړ؛ په دې مجاهده کښی کانگرسیانو دخپل مجلس عامه دیو رکن یعنی د سند دجیرام داس او دولت رام په ذریعه زمونږ مرسته وکړه او دوی د امرسته له دې کبله وکړه چه ددې سردارانو د ظلم ښکار شوی یو څو تنه مظلومان له بلوچستان څخه تښتیدلی او په سند کښی میشت شوی و.

مونږ ددې وضعیت په لیدلو ډیر حیران شو چه په ۱۹۳۷ ع کال کښی دبلوچستان ځینو برطانوی افسرانو او نورو هغو مسلمانانو چه د دوی دلاس لاندی وو هم دغو سردارانو ته د مسلم لیگ دقائمولو تلقین وکړ او دغه مسلم لیگ په نتیجه کښی دهز- هاینس آف خان قلات او نورو قبائلی ظالمو مشرانو دریاست اواداری لاندی جوړ شو، چه عوامو په خپلو منځو کښی تر ډېری مودی پوری دغه مسلم لیگ په سردار لیگ نوم یاداوه، دغه راز دقلات دخان دروپو، پیسو او بډو په اثر دمسلمانانو دمطبوعاتو او د هندوستان دمسلمانانو د راه نمایانو یوی طبقی زموږ مخالفت او دښمنی ته ملا وتړله دی خلکو دمطلق العنانی سره دمرستی په کار په هغه وخت کښی پیل وکړ چه په دغه وخت کښی پنډت جواهر لال نهرو دریاستونو دعوامو د کنفرانس په قیادت جوده پور اودی پور او د کشمیر هندو ریاست

ته تللی واودر یاستو نود فیصله
کولو او لغوه کولو په کارئی
پیل کړی و، د بلوچستان
دعامو خلکو د احساساتو
اندازه له دې څخه اټکلولی
شی چه د بلوچستان د مسلم
لیك سکرتری میرعطاء محمدخان
چه یو ډیر زیات په ترقی مین
او تعلیم یافته زمیندار او د
جرګې ممبرو، د مجلس عامه
څخه فی الحال استعفی ته اړ
شو او دا ځکه چه ده د ځینو
سردارانو انتخاب یو
شرمناك او د حزب او جماعت دپاره
ډیر بد او مضر کار ګاڼه.
بلوچستان ته د پاچاخان راتګ:
دخپلو هم کارانو فدا کار یو او
ټینګ عزم او ښی ارادې
له برکت زمونږ حزب
د صوبې تر ډیر ولیرو ځایو
پورې خپور شو او دا حزب د صوبې
خلکو د خپلو مجاهدو او
دخپلو تکلیفونو دلری کولو یوه
مظبوطه قلا وګڼله په ۱۹۳۹ ع
کال کښی باچاخان زمونږ
دیو ګران میلمه په حیث زمونږ
ملک ته راغی او د بلوچستان
دوره ئې وکړه؛ د باچاخان

د کامیابۍ د ورې دنا کامه
کولو دپاره حکومت څوڅو واره
د فساد، د جوړولو کوښښونه
وکړل، د دورې په وروستی ورځ
د حکومت یو هندو افسر د باچاخان
په یوه جلسه مسلحه حمله وکړه
دغه افسر دا کار د بلوچستان
دیو بلوڅ زمیندار په ذریعه وکړه
چه د مسلم لیګ یو مهم رکن و.
د هند ملی کانګرس:
که څه هم په بلوچستان کښی
او د بلوچستان څخه د باندی
هغو مسلم لیګیانو چه زما مخالفین و
زه تل د هندو او د هندوانو
دایجنټ او په داسی نور و بدو
نومونو یادولم او تل به ئې زما د
بدنامولو دپاره کوښښونه کول
لیکن دا هم یو منل شوی او
څرګند حقیقت دی چه زه نه
کله د کانګرس ممبر شوی یم
او نه د ۱۹٤٦ ع کال د نیمائی
پوری په بلوچستان کښی د
کانګرس په نوم کوم یو حزب
او جماعت وجود درلود؛ تر دې
چه زمونږ حزب او جماعت هم
کانګرس سره کوم آیینی تعلق
نه درلود. زمونږ یوا ځینی هدف
دا وچه، مونږ د برطانوی حکومت

څخه ډیر په تنګ شوی وو او
زمونږ دا عقیده وه چه له دی بلا
څخه خلاصیدل یوا ځی
زمونږ. خلاصیدل نه
بلکه د ټولی اسلامی نړی
خلاصیدل دی، د دې عقیدی
په اساس انجمن وطن دا فیصله
وکړه چه په دوهم لوی جنګ
کښی انګریزانو ته مرسته
نه ورکوو — لکه چه ګاندهی
هم پخپله یوا ځی ستیه ګریه
شروع کړه، انجمن وطن سره
د دې چه کانګرس سره ئې
هیڅ قسم تعلق نه درلود، د دې
تحریك دپاره ئې دخپلو (۵۰)
تنوارا کینو خدمتونه وړاندی
کړل او کټ مټ هم دغه راز
مونږ په ۱۹٤۲ ع کال کښی
د (هندوستان پر ېږدیء) په
تحریك کښی پوره برخه واخستله
پاکستان دیوی مفکوری په حیث:
ماوړاندی دا حقیقت څرګند
کړی دی چه په بلوچستان کښی
مسلم لیك ولی او دچا په ذریعه
قایم شوی دی او دا موهم ویلی
دی چه د هندوستان د مسلم لیګی
راه نمایانو د نظریاتو په خصوص کښی
مونږ دخپلو تجربو په رڼا کښی

کو مه نظریه قایمه کړې ده
په دې حالاتو کی ستاسو
دپاکستان دتخلیق په باره کښی
اشتباه نه کول. او داشی لکه چه
څنګه دې عناصر و مونږ ته
راوړاندی کړی و، دانګریز په
فریب تعبیر نه کول به یوه غیر
قدرتی او غیر طبیعی خبره وای.
سربیره پردی په بلوچستان کښی
چه په دی ځای کښی دمسلمانانو
شمیر دټول هند دمسلمانانو په
مقابل کښی ډیرو، دهندوانو
دغلبی سوال قطعاً نشو
پیدا کیدلی، سره ددې چه په بلوچستان
کښی دنورو صوبو مسلمانانو
او هندوانو دواړو طبقو یوشانته
دبلوچستان دمسلمانانو
په تجارت، ملازمت او تعلیم خېټی
اچولی او دبلوچستان خلك
به ئې تل لو ټول مګر دې مسلمانانو
هر وخت ددې غیر ملکی
هندوانو سره دخپلو بلوچستانی
مسلمانانو ورونو په خلاف
مرسته کړې ده، سربیره پردې
لکه چه ماوړاندویلی دی مونږ
په عوامو مسلمانانو پوره
اعتماد درلود او مونږ په دې
خبره باور درلود چه دخپلو

مشکلاتو دلری کولو او دخپلو
چارو دترسره کولو په لړ کښی
ددوې زیارونه دډاډوړ دی.
کانګرس دخپل هغه قرارداد
له مخی چه په کراچۍ کښی ئې
کړی او په دغه قرارداد کښې ئې
چه خپلو خود مختار و لسانی
واحدونو ته کوم ډاډور کړی و،
او نن همدغه قرارداد په ټول
هند کی معمول دی له دغه
قرارد دڅخه زمونږ ډېر امیدونه
دهندوستان دمسلمانانو دمستقبل
سره تړلی و، خصوصاً په کشمیر
او نورو هغو صوبو کښی چه په
هغو کښی دمسلمانانو شمېر
ډېر دی او دضرورت په وخت کښی
له دوی څخه له دې موجوده پاکستان
څخه لوی پاکستان جوړیدلی شی
لکه چه دهمدې مفکورې په اساس
پخپله قائداعظم یو وارد اپاکستان
د(شل او ګوډ پاکستان) په نوم
یاد کړی و، او په دې خبره کښې
شك نشته چه دغه راز پاکستان
به له دې موجوده ؤ خامیو او
نواقصو څخه یو پاك پاکستان
وای، چه د دغو خامیو په
اثر نن په لکونو مسلمانان
سرګردانه او کډی په سر او

برباد دی. دبنګال او پنجاب
وېش او په کشمیر کښی داستصواب.
رای عامه ضرورت او دابادیو
دتبادلې تباه کونکې مفکوره
داډول شیان دی چه دغه کارونه
تریو وخته پوری ځنډولی
او معطلولی شول؛ له همدې کبله
مونږ دانظر په خوښه نه کړه
او مونږ دخپل جماعت الحاق
په کانګرس پوری دی دپاره
تر ۱۹٤٦ ع کال پوری وځنډاوه
چه مونږ دپاکستان دمفکورې
مخالفت وکړو او په دې وسیله
انګریز دهندوستان په آزادولو
کښی دتاخیر څخه محروم کړو.
نن هم که دپاکستاد جوړېدلو نه
«۹» کاله وروسته بلوچستان
ته په یو منصفانه نظر وکتلی شی
نو په دغه ځای کښی هېڅ ډول
تبدیلی نه ده راغلې په بلوچستان
کښی نن هم په جرایم سرحد باندی
بناشوی قوانین په پوره ډول
رواج لری او په دغه وسیله
دعوامو ښاری او مدنی حقوق
له پخوا څخه نن ډېر زیات
دافسرانو دپښولاندی کېږی.
نن هم په بلوچستان کښی
دصوبائی او مرکزی اسمبلی

دنمایندگی دپاره هم هغه غټان
اوجرگې انتخابی لوشی چه
دغه راز خلك به انگریزانو
دغدارانه خدمتو دترسره کولو
دپاره انتخابول. په دې ځای
کښی دتش په نامه جمهوری
حکومت تاکلی قوانین ترهغې
نشی نافذ کېدلی تر څو چه
گورنر د خپلو مطلق العنانه
اختیاراتو په رڼا کی د هغو
دنفاذ اجازه ورنه کړی، په
بلوچستان کښی کومه منتخبه
اداره نشته بې د کویټې دښاروالی
دهغی اداري څخه چه یو حکومتی
آمر او (۹) نامزد اراکین
لری او سربېره پردوی لس تنه
داډول منتخب اراکین هم لری
چه دغه اراکین دمحدودو
رایو دور کولو په اساس کټ مټ
دانگریزانو دحکومت ددورې
په څېر انتخابولی شی، له دې پورته
معلوماتو څخه دا حقیقت په
ډېر واضح ډول څرگندېدلی
شي چه دسردار لیگ په خصوص
کی زمونږ نظر په ترکومی
اندازې صحیح او په ځای وه.
دمسلم لیگ شهپر دقلات خان
دپاکستان دجوړېدلو نه وړاندی

دبلوچستان دنورو سردارانو
په اتفاق دغه منصوبه جوړوله
او په مطبوعاتو کښی به ئې ددې
منصوبې په شا او خوا کښی
داسی مضمونونه خپرول چه د
بلوچستان هغه منطقی چه
پښتانه پکښی استوگنه لری په
یو داسی ریاست بدل کړی شی
چه د قلات دخان داثر لاندی
دنواب محمدخان جوگی زئی
داداری لاندی وی.
که څه هم داقتدار دانا ممکنه
نظر یه په بلوچستان کښی له
دې کبله ناممکنه نه گڼل کیدله
چه د پاکستان دجوړېدلو نه
وروسته مسلم لیگ دیو حقیقی
حکمران یو داسی آزاد ریاست
جوړ کړ چه دانگریزانو په
وخت کښی ئی قطعاً وجود نه
درلود، دمسلم لیگ راه نمایانو
به تل دپاکستان په باره کی
دخپل موقف دوضاحت څخه
ډډه کوله. د مسلم لیگ یوې
کمېټې دنواب اسمعیل خان په
قیادت کښی دبلوچستان دوره
کوله په یو تاریخی دعوت کښی
ددغی کمېټی اراکینو ماته
په مسلم لیگ کښی دشمولیت

دپاره وویل: ماخپل پوزیشن او
وضعیت هغو ته څرگند کړاود
ډېر بحث او مباحثی نه وروسته
په دې مضمون یو مشترك بیان
تیار کړی شو چه که دټولو هغو
صوبو مسلمانانو ته چه په هغو
کښی دمسلمانانو شمیر ډېروی
دخپل مستقبل دفیصلې په خصوص
کښی پوره اختیارور کولی کیږی
نو په دې صورت کښی به مسلم-
لیگ دهندوستان دآزادۍ په
جنگ کښی دکانگرس سره
مرستی کولو ته تیار او چمتو
وی او که کانگرس ددې خبری
دمنلو څخه انکار وکړ نو په
دغه صورت کښی به زمونږ جماعت
په مسلم لیگ کښی شامل شی
چه په نتیجه کښی نواب اسمعیل خان
په دې بیان باندې دامضاء
کولو څخه انکار وکړ اووې
ویل چه مونږ باید دا مسئله
دبلوچستان دمسلم لیك په ذریعه
فیصله کړو او دټول هند مسلم-
لیگ ته په دې ډول بیانونو کښی
د برخی اخستلو اجازه نشی
ورکیدلی.
نوری هم ډېری داسی موقع
پیښی شولې چه له هغو څخه زه

په دې حقیقت پوه شوم چه مسلم-
لیګ یو اځې دا ډول حل
منظور ولی تصویبولی شی چه هغه
انګریزانو لومړی منلی او قبول
کړی دی او مونږ په انګریزانو
تردې اندازی پوری اعتماد نه
شو کولی .

پاکستان د یو مملکت په حیث :
د پاکستان د جوړېدلو څخه
وروسته د انجمن وطن مجلس
عامله فی الحال دا اعلان وکړ
چه مونږ د پاکستان د دې نوی
مملکت وفادار ښاریان او د
پاکستان د پاره هر ډول قربانۍ
ته حاضر یو. د بلوچستان د مسلم-
لیګ بد کردار واوټګولیډرانو

چه د بهتان تراشیء او دروغ
بافۍ په فن کښی د پوره مهارت
خاوندان دی زموږ له دغه
داخلاص نه ډك اعلان څخه په
منافقت تعبیر وکړ او د اځکه
چه بې له دې کار څخه په بل
صورت کښی د دوې د لیډرۍ
او عایداتو لیاری بندید لې .



شاغلی محمد ابراهیم
قندهاري د دولتي
مطابعو رئیس چه
د ده په توجه د دولتی
مطابعو په تولو برخو
کښې ښه پر مخ
تګ شوی دی

شاغلی صدر الدین
«رفیقی» د دولتی
مطابعو د تخنیك
د مدیریت معاون
چه یو فعال زلمی
دی او و تولو
جریدو ته خاصه
توجه لری.



شاغلی رحمت اله شفق د دولتی
مطابعو د ریاست معاون

یو څو «داولی؟»

زما دوست غفران خان هم دیوه عجیب طبیعت خاوند دی تر څو پوری چه دیوی خبری کج ئی نه وی ایستلی نو تسل ئې نه کیږی سړی به وائی چه یا خو ښه نادان وړ کوټی دی خو یا دسقراط اشنا دزوړ یونان فلسفی دی همیش ئی دڅه رنګ؟) «ولی؟» سوال په خو له کښی وی چه دهر «ولی؟» څوك څنګه جواب ور کولی شی پرون دیو ساعت دپاره ورسره ملګری شوی وم ـ ماز غه ئې رانه وښکله ویل ئی چه دڅو خبرو تپوس درنه کوم:

۱: داچه هر تعلیم یافته ولی ځان قومی لیډر بولی؟

۲: څو مره چه دانګریزانو دتهذیب دوره اوږ دیږی په هغه اندازه جیلخانې ارتیږی او مفلسی ډیریږی؟

٤ـ زمونږ په ملك کښی واعظان ډیر دی که اور بدونکی ـ که واعظان ډیر دی داولی؟

٥ـ زمونږ په ملك کښې ولې ویا ئی زیاتیږی او زمینداران خواریږی؟

٦ـ انګریزان دمزدورانو نه ولی تر هر چا ډیر بیریږی؟

۷ـ هر پښتون ولی پوره دی هیڅوك دیو بل عقل ته ونه پسخیده او هر سړی ځان په حق بولی؟

اخر په تنګ شوم او ورته ومی ویل ورور مستاد دې «ولی» نه «ولې» بهیږی اخر بس دې هم زده دی که یه؟ اوس به نو خپل «بس» ته هم وائی چه «ولی؟» په یوه وار ښه ښه ښه!

(چلوونکی)

سین چپې چپې اباسین چپې چپې

په نغښتو مټو چه بخملې د بر وزوشوړه تنور ته وروا چوله نو د اور لمبو به ئې د سر نه اوچتې ژبې و وهلې، د هاړ غر مې او د تنور تا و ئې په بدن باندې دخولو نېز رامات که، شېن خال ئې د زنې په کوهې کې غوپې وو هلې. سپین د نرۍ خامتا کمیس ورپورې داسې لېو شوچه دبدن په خوځید وراخوځېدو ئې دشاپه تخته د نرونرو ګونجو ګلکاری کېده اوورانېده.

حسن کورته راننوتلو سره و وېل:

« دا د غرمکۍ تنور ئې تو د کړ

شینکی خالو نه ئې په خولو کې غوپې خو رینه »

بخمله مسکۍ شو ه ستاخوله کې هروخت ټپې وی

«حسن وویل چه بل هېچېر ته زما ټپه نه رایادیږی خوچه تاوو ینمه نو ... »

بخملۍ د بڼو غشی لکه د سلا می بر چې ځمکی ته تیټ کړل خپل کار کې ئې په تلوار راواخیسته.

حسن :— په تامی داورځ پیر زونه ده ارمان می دا دی چه ته لکه بی بی کټ کی ناسته وای او بل چا در ته پخو لی.

بخمله :— یعنی چه زه شله ګوډه وای، یا په نری رنځ پرته وای؟ چه بل چارانه خوله کی را کولی ؟ ؟

حسن :— خدای دې نه کړی هسی..

بخمله :— پښتنه په کار بده نه ښکاری، په تېره بیا پخپل کار، زه ډیر شکر و نه وایم چه د خپل .... خدمت کوم.

حسن :— زمانوم دې ولی وا نه خیست ؟ بخملې په کټ کټ و خندل.. داسی خبرې به د دوی هره ورځ کېدې خونن د خولو سپر لۍ څه بل رنګ پیدا کړی ؤ.

حسن :— کمیس دې دخولو له زوره داسې خوځی لکه د سین چپی.

بخمله :— ... نه .... د اباسین چپی.

حسن :— «نوچه لږ ترې بېرته شو هسی نه چه ډوب مو کړی» اولاړ د لوخې کچه څپرې لاندی کېناست دې نه پس داد دوی د مینې محبت ظاهرولو مشغولا او د خبرو کړ لو بسم الله شوه

(سین چپې چپې اباسین چپې چپې)

د ډوډۍ په وخت ، د خندلو په وخت ، د ژړلو په وخت ، لنډه دا چه د سلام ځای د محبت راز دې کلمې ونیو دد وی محبت ته به خلکو په کومه سترګه کتل؟ داد هرچا خپل خپل نیت ؤ ، د خلکو په مخ کی به دا کلمې په سترګو کې ویلی کیدی ، د حسن سترګی چه به په ځیر ځیر شوې نود هغې به ټیټې شوې ـ لکه چه چا ویلی دی :—

په لکهو نو ایشارې شته ، د ښایست په پوټی ناز کښی.

په کروړ ونو سلامونه شته د مینې په په پټ راز کښې ،

شپې ورځی اوړیدې ، او ښتې ، تېرېدې ـ د تېرې سنې (۱۹۵۳ ع) په اوړی کی ځای په ځای وباغوندی جوړه شوه په غره ، په سمه د مړو کړساوه ، ډېرئې یتیمان کړل او ډېرئې کوانډان ، ډېرې ئی بوری کړې او ډېرئې سرتور . حسن او بخمله هم په دی شمیر کې راغلل ، له فانی محبت نه ئی ابدی محبت خوښ کړ . خلکو اسمان ته خولې بقې کړی ، باران د پاره خیراتونه زاری وشوې ، خدای سره هرڅه ډېر دی د باران فرښتو د آسمان

دسمند رورخ را مات کړ او لکه دزوروري گرمۍ زور ربارانونه را کیښ شو
یاخو چا دباران سوال سره خیر نه ؤ غوښتی او یاخو د گرمۍ په اخرینه ورځ
دحسن او بخملی په نامراده شوې مینه باندی اسمان داسی بی اختیاره وژړل چه
دچا داسی ژړا یاده نه وه دومره سیلابونه چه ډېر کلی ئی یوړل ډېرې مقبرې ئی
هواری کړې ژوندی ئی دپولی پړق ته کښینول او مړی ئی د کالی دریاب تلې
ته ورسول ، اباسین خو اباسین دی ، دلنډی او سوات دسیند نېزو نو هم دتاریخ دپانو
په یو گوټ کی ځای وموند « سین چپې چپې اباسین - چپې چپې » عین هغه ځای ته
چه کوم ځای لنډی او اباسین غاړه وځی داوبوله منځه یوې زرینې ښاپیرۍ
وزرو پړ قول او آسمان پلو او چته شوه ، دمازیگری لمر او داوبو دپړقا په رنگینو
پلو شو کی مخ په قبله دهغو دوو مسافرو میلمنو استقبال ته والوته ، کوم چه به په بادی
او ښانو سواره راتلل :

« سین چپې چپې اباسین چپې چپې » ښاپیرۍ

دهغو په سرو نو دخپلو ځلید ونکو وزرو سوری وکړاو ورسره پستنه
شوه مسافر په داسی سیالۍ راځی چه کله یو مخکښې شی او کله بل - هر مخکښینی
چه یو فرلانگ نیم لاړ شی نو داوبو په چورلك کښی دخپل اوښ مهار دومره راتاو
کړی چه وروستی ور ورسی او جوړه دسین زنده باد او اباسین زنده باد چیغه هم
وباسی ځکه چه خلکو جدا جدا ښخ کړی و وخوسین یو ځای کړل - خیر آباد
سره دا دواړه یو قطب بل سویل لور ته بېل شو ، ناڅاپه دقطب غاړی مسافر دا باسین
په یوې زوروري چپې دستر گورپ کی دسوېل مسافر څو قدمه مخکښی کړ
خو بیا راستون شو - ملگری ورته دتورو وښتو په بو کره کښی پټ مخ را ورسید

« سین چپې چپې اباسین چپې چپې »

دواړه داسی غاړه غړی شول چه دا باسین چپوڅه چه دغرونو تړو هم نه شو جدا کولی، ښاپیری دزری وزروپه کفن کښی ونغښتل اوداوبوتل ته ئی وسپارل دغرونوڅو کواو دا کبرپاچادقلادېوالونوپه زوره چغی کړی:

« سین چپې چپې . اباسین چپې چپې »

(استاد راحت زاخیلی)

حضرت سعید بن جبیر

په یوه ظالم عدالت کی د یوه رښتینی سړی مقدمه

حجاج بن یوسف ثقفی دخپل ظلم او خو نو په وجه دو مره مشهور دی چه پېژند ګلوی ته ئې حاجت نشته د اسلامی تاریخ پاڼی دده له خو نی کار و نو څخه مړ ې دی د عراق د ځمکی مخ دده دلاسه د خلقو په و ینو خړ و ب شو ی د ی همد ه د حضرت عمر (رض) د زوی د حضرت عبدالله ژوند تمام کړی دی هم ده د زبیر ز و ی عبدالله د کعبې شریفی په جماعت کی شهید کړی دی، هم ده د منجنقیانو په لا س پر کعبې شریفی کاڼی اورولی دی او ورانه کړی ئی د ه

دی د عبدالملک بن مروان دلاسه په عراق باندی د خپل اختیار حا کم او د چنګیز او هلا کو په قدم ئی قدم ایښی و، عدل او انصاف ئی نه پېژندل، د رحم او مهربا نی سره ئی زړه اشنا نه و، په وړو وړو غلطیو باندی به ئی د خلکو سرو نه پرې کول او هیڅ به نه ګر و هېده د عراق جنګی عرب که و ېر ېدل نو د همده نه و ېر ېدل او دده د تور ې نه ډ ېر لوی لوی بهادران چه عبدالملک نه به نه و ېر ېدل دده نه به و ېر ېدل او دد ه دوړاندی به ر ېږ د ېدل، دده د قتلو نو اندازه ددې نه معلومېږی.

د نفیر بن شمېل په قو ل کو م وخت چه حجا ج مړ شو یو لک او شل زره نفره ئې بېله جنګه قتل کړی و،

بې شکه چه حجاج نهایت ظالم او د ډ ېری د بد بې خاوندو او ټول عراق دده د نوم څخه بېر ېده او ر ېږ ېده، لیکن مونږ به د او ګو ر وچه د ه د حق ا و د حقو قو پر خاوندانو باندی هم هیبت اچولی و، که یه ؟

ایاد هغوی په غاړو کی ئې هم دغلا مۍ پړی اچولی و؟ ددې خبری جواب تاریخ را کوی چه پخوانو عالما نو به په څه بهاد رۍ سره هغه ته مخا مخ رښتیاویل او دیوه ساعت نه به هم له حقی لاری څخه نه کرزېدل، دلته موږ دیوه مشهور تابعی حضرت سعید بن جبیر قصه لیکو چه هغه ئې دیاغی توب په ګناه نیو لی و، او سپاهیانو چه حجاج ته پیش کړ، نو ددوی ترمنځ داډول خبری شوی دی:

سعید! سعید دجبیرزویه! جبیر (دهډو کی پیوندونکی)

حجاج: یه! بلکه ته شقی بن کسیر ئې (د ماتوونکی بد بخت زوی)

سعید: زما هغه نوم زمامورا یښی دی چه په دې معامله کی ترتا ډېره هوښیاره وه.

حجاج: ستامور هم بد بخته شوه او ته هم بدبخت ئې.

سعید: په غیب علم چه پوهېږی هغه بل څوك دی.

حجاج: تابه ددې دنیا په ځای داور لمبو ته ور سوم.

سعید: که زما په دې خبره یقین کېدای ما به تا ته عبادت کاوه او تا ته به مې سجده کوله.

حجاج: دمحمد (ص) په باب کی ستا څه رایه ده؟

سعید: هغوی (قربان ئې شم)، رحمته اللعلمین او امام المهتدین دی.

حجاج: دعلی (رض) په نسبت څه وائی چه هغه په جنت کی دی یا (نعوذبالله) په دوزخ کې؟

سعید: زه دجنت او دوزخ څخه نه یم راغلی نو تا ته زه هغه څرنګه دروښیم چه هغه په کوم ځای کی دی.

حجاج: د خلیفه ګانو (څلور یارانو) په باب دې څه خیال دی؟

سعید: زه د هغوی داروغه نه یم.

حجاج: په دوی کی ستا کوم یو حوښ دی (واضح دی وی چه حجاج به امیر «رض» ته بدویل.)

سعید: کوم یو چه دخدای (ج) ډېر خوښ وی؟

حجاج: دخدای پاك (ج) کوم یو ډېر خوښ دی؟

سعید: په دې باندې هغه خبر دی چه دهغو په زړو خبر د اروی.

حجاج: زه غواړم چه ته رښتیا وو ائې.

سعید: زه هیچېری دروا غ نه وایم.

حجاج: نه ولی چېرې نه خاندې؟

سعید: داسی مخلوق څرنګه وخاندی چه دخاورونه جوړ شوی وی حال داچه خاوره بیا داوره ده.

حجاج: مونږ ولی خاندو؟

سعید: د تولو زړونه یوشان نه دی.

بیا حجاج ډېر سرې او سپینی او مرغلری راوغوښتې او دسعید په مخ کی ئې کېښود لې او ورته وئې ویل:

حجاج: د دې څیز په نسبت څه وائې؟

سعید: که تا داد دې دپاره جمع کړی وی چه د قیامت نوښه پرې و کړم نو مبارك دی — هم هاله چه پاك وی او که نه عبث دی.

بیا حجاج دستار (مدم) او د شپیلۍ وهلو حکم و کړو او ددې په باب کی د حضرت سعید نه تپوس و کړ — د دې په جواب کی څه وائې؟ د هغه تر ستر کو اوښکی راغلې او د مرغلر و په شان ئې پر مخ توئې شو لې

حجاج: دستار او شپیلۍ په وهلو سړی مست او خوشا لیږی او ته پرې ژاړې؟

سعید : د اخیز ونه د خو ښې نه دی د شپیلۍ په یاد ولو د قیامت شپیلۍ را یاده کړه - او ستار دیو داسی لرګی نه جوړ شوی دی چه په ظلم پرې شوې دی او ددې تا رونه به د قیامت په ورځ د هغه چانه چاپیر وی چه نن ئې غواړی

حجاج : اې سعید ، ستا نوم مرګ دی ؟

سعید : د هغه سړی مرګ نشته چه د دوزخ نه لیری شی او جنت کی داخل شی .

حجاج : ته مومن ئې که کافر ؟

سعید: چه په خدای (ج) می ایمان راوړی دی نو بیامی کفر نه دی کړی

حجاج : ووا یه چه څه رنګه دې مړ کړم ؟

سعید : خپل خبر واخله او دځان د پاره د قتل طریقه غوره کړه قسم می په خدای دی چه څرنګه دې زه دلته مړ کړم آخرت کی به تا خدای (ج) هغه سی مړ کړی .

حجاج : ته غواړې چه زه دی معاف کړم ؟

سعید : د عفو او بخشش در خواست خو د خدای (ج) نه دی ته څه شی ئې زه خو نه تا ته څه عذر پیشوم او نه د ځان خلاصی غواړم په دې باندی حجاج په غوصه شو او سپاهیانو ته ئې امر وکړ چه بوئې زی او سر ئې پرې کیږ- دار ښتینی مومن سپاهیانو روان کړ خولاد درو ازې نه ته وتلی چه سعید په زوره وخندل حجاج ته دا عجیبه ښکاره شوه او بیر ته ئې را وغوښت نو ورته وئې ویل :

حجاج : تا ولی وخندل ؟

سعید: ما ته خندا پرې را غله چه د خدای په نوم تاته څومرې غوصه در غله او تا ته هغه لا هیڅ نه وائی.

په دې خبره حجاج نور هم په غصه شو او وې ویل چه زما په مخ کی ئې څملوىء اوحلال ئې کىء،هر کله چه جلادانو څملاوه نود خولې نه ئې دا آیت واوریده شو :

وجهت وجهی للذی فطر السموات والارض حنیفاً وما انا من المشرکین

(ماخپل مخ دتولو طرفونو نه راو ګرزاوه او دهغه ذات په طرف می کړچه ځمکی او اسمانو نه ئې پیدا کړی دی او زه نه یم له مشرکانو څخه)حجاج حکم و کړ چه مخ ئې له قبلې نه راو ګرزوىء په دې باندی سعید دا آیت ووایه :

فاینما تولو فثم وجه الله.(کوم طرف ته چه متوجه شی وهغه طرف ته دخدای «ج» مخ دی)حجاج ووې اپوته ته ئې واچوىء نو حضرت سعید دا آیت ووې :

منها خلقنا کم وفیها نعید کم ومنها نخرجکم تارة اخری.(هم له دې ځمکی نه می تاسی پیدا کړیء همدې ته به موبیا بوزم او دوباره به موله دینه راوباسم)

حجاج له ډېری غوصې نه بېخوده شو او جلادانو ته ئې حکم و کړچه حلال ئې کړیء حضرت سعید په اوچت آواز ووې :

«اشهد ان لااله الا الله وحده لاشریك له و اشهدان محمداً عبده و رسوله »

واخله دا کلمه زما څخه واخله ترهغې پوری چه دقیامت په ورځ درب العلمین په دربار کې زه او ته پېش شو.

له دې نه وروسته دجلادانو توره وچلېده.او سرئې له تن جدا شو.

« راحت زاخیلی »

د نواب صاحب اشنائی

پر خپل ځان اعتماد نه کول او بل ته هیله لرل، مغزی کیږول د شرمندگی ریوازینی سبب دی نه د نجات او فلاح وسیله

ز مو نیزیه وطن کی دیر داسی خلق

شته چه هغوی خاما خا د خا نا نو ر ئیسا نو سره په دې امید اشنائی پیدا کوی چه په سخته کی به څه لاس ور کړی سهار وختی به د خان د پرې ته لاړ شی، دروغ رښتیا به وائی خوشا مندی به کوی او دچا یو یوه پیاله به ځکی، دستر کو په یوه اشاره به خون ته ملا تړی مگر که په ده باندی څه واقعه راغله نو د جناب خانصاحب له لاسه دده تول امیدو نه د همیشه دپاره په خاورو کی خښ وی. دلته زه تاسی ته د «منشی امیدعلی — صاحب» یوه صحیح او اصلی واقعه بیانوم امیددی چه ناظرین به تړې نه څه عبرت واخلی او په ځای ددې چه د دنیوی بتانو سلامونه و کړی او خپل وخت برباد کړی څه نتیجه ور ګو نکی شغل به اختیار کړی.

منشی امید علی دیوې لویې کار خانې په دفتر کی نوکرؤ، اگرچه د پر خوش طبع، حاضر جواب او تقالی سړی ؤ لیکن په کارو بار کی څه قدری سست پست ؤ، ځان سره به ئې نوربابو گان هم په گپ و شپ د کار نه ایستل دغه وجه وه چه دده تنخا چیرې دد پرش روپو نه میاشت کی زیاته شوې نه وه او گوزاره به ئی په ډیر تکلیف کوله، یوه ورځ نواب خان زرین خان په څه کار پسی کارخانی ته راغی — ساعت ګړی د منشی صاحب سره مشغول شو،

نواب صاحب یونوی ځلمی ځوان ؤ، او د شعر وسخن دل داده ـ
د منشی صاحب په خبر واترو ډېر خوشال شو، د کارخانی نه درخصتېدو په وخت کی
ئی منشی صاحب ته وویل چه کله کله خو زما دېرې ته هم پیښه کوه. نواب
صاحب دیو لوی ریاست والی دی دهغه داقدر وینا هم څه وړه خبره نه وه،
د منشی صاحب مخ دخوښۍ نه وپړ قېد اووې ویل چه: جناب ډېره ښه خبره
ده انشا الله ضرور به حاضر ېږم، مګر چه په زړه کی ئې فکرو کړ نوستر ګی
ئې داو ښکونه ډکی شوی ځکه چه دسرتو پۍ ئی دعمر اخری درجې ختم کړې
وې د کوټ دلستو نو او لمنو ریښی ئې زنګېد لې دپڼو په ځای ئې «چیتری»
په پښو وی ځای پر ځای پرې تا کې لګېد لې وې چه په لاره به تلو نو د
«تن همه داغ داغ شد پنبه کجا کجا نهم» اواز به ترې نه ختلو. دغریب
دوه جوړه جامی وې چه یوه به ئی په غاړه بله به ئې ددوبی کره وه، تقریباً
دغه حال د پیغلی بی بی اووړو وړو معصو ما نو بچوهم ؤ، په دغه سبب هغه
د نوابصاحب عالیشانی بنګلې ته دورتلو زړه ورتوب کولی نه شو.
یوه هفته خوتېره شوه او منشی صاحب دنوابصاحب په خدمت کی حاضر نه شو،
یوه ورځ پنځه بجی د کار خانی نه کور ته راروان ؤ، د پیښور
رئیسان په هوا رفتا و موتر و نو کی په پخو پخو سړ کو نو باندی یو
پلو بل پلو زغلېدل چه نا څا په نواب صاحب ئی په نظر راغی چه سره د
مصاحبینو په موتر کی فټاپټ روان ؤ ـ منشی صاحب په ډېره عاجزۍ سره
سلام ورکړ او نواب صاحب مسکی غوندی شو موتر دوه څلور قدمه مخ کی
ولاړ ودرید په دې عزت باندی دمنشی صاحب دماغ عرش معلی ته و خوت
لکه دلېو نو په شان ور وزغلېد او موتر پوری ودرېد. نواب صاحب په خندا

خندا کی ترې تپوس و کړ چه ته خوزماً بنګلې ته را نغلی ؟منشی صاحب عذر معذرت و کړ چه افسوس دی فرست می بیا نه موندله، دې پس به انشاءالله بې ناغې هره ورځ حاضر یږم د موټر پټ پرانستی شو منشی صاحب سره د خیرو نوجامو او غبار آلوده پڼو دنواب صاحب په خوا کی کېناست موټر بیاد هواسره جنګ شروع کړ او په څو مټو کی د ښار نه بهر صافې پاکیزه هوانه وووت. د سړك نه دواړو طرفوته شنو شنو و نو بو ټو باغونو د منشی صاحب په زړه کی یوتازه روح وپو کلو، د هوا رفتارموټر سواری او دنواب صاحب ګپ وشپ داسی څیز ونه وو، چه منشی صاحب هډو خپل حیثیت بالکل، هېر کړو او دا خوئې په زړه کی مطلقاً خیال نه را تلو چه یوه غریبه عاجزه ښځه اوواړه ما شو مان بچی به زما لاره ګوری او د انتظار سترګی به ئې په در شل ګنډلې وی، البته کله کله چه به ئې نظر په خپلو خیرو نو جامو او چیترو پڼو پریوتلو نو ټوله خوښی به ئی د دماغ نه رفو شوه او خالص مړی به ترې جوړ شو.

نواب صاحب د سیل نه تقریباً اته بجې وزګار شو او خپلې د ېرې ته واپس راغی، نوکران چاکران را وزغلېدل او برقی ستنی ئې د باو کړې بنګله څه وه خالص د شداد جنت ؤ د بجلۍ رڼا ته سترګی نیولی نه شوې دېر ساعت خو منشی صاحب هك پك حیران پاتې شو په ټوله بنګله کی سوا، دمنشی نه بل هېڅ شی بدنمایه نه ؤ، لږ ساعت کی د نواب صاحب مصاحبان هم را غلل او مجلس ګرم شو، دمنشی صاحب په خوار و جامو پوری ټوقی ټقالی و شوې. د منشی صاحب طبیعت هم په جوش کی رنګارنګ ګلو نه د خولې مبارکی نه ودوړول، منشی صاحب به اکثراً ډوډۍ د نه بجونه وړاندې وړاندې خوړله لس وغږېدلې مګر دډوډۍ

څه پته نه وه - کلمو ئې د قل هو الله وظیفه شروع کړه با د و پکښې
ډ زډوز جوړ کړ، د وه د رې ځله خوئې اجازت وغوښت مګر نواب صاحب
پرې نه ښو د اخر په یوولس بجوئی په دې شرط د تلو اجازت ور کړ
چه سبا به بیا ما ښام نه وروسته ملاقات ته راځی،
د منشي صاحب ځای د بنګلې نه دوه میله لرې ؤ
وږی تږی پیاده روان شو، شاید د نواب صاحب ګمان به داؤ چه دی به
هم په با د پیما موټر کی ځی، غرض دا چه په ډېر خراب حالت کی تقریبا
نیمه شپه کور ته ورسېد، بی بی ورته دروازه پرانستله او تفحص ئې ترېنه
وکړ چه نن خیر ؤ تر نیمی شپې پوری چیر ته وې په کتو کتوز ما
سترګی وختلې او لا دتر نه بجو نهر نهور ویښ ناست ؤ، او بیا په ژړا
انګولا کی اوده شول، شېطان به راته قسم قسم وسوسې په زړه کی اچولې
د خدای شکر دی چه روغ رمټ کور ته راغلې د بی بی ګیله ما نه چه
ختم شوه، نو منشی صاحب وویل چه اول خو څومړۍ ټکړه راوړه چه وئې
خورمه بیا به ټول حال احوال درته بیان کړم، هغه عاجزه سمد ستی پور ته
شوه او بخه کړې ډوډۍ ئې ورته وړاندی کېښو ده، منشی صاحب چه
ډوډۍ نګلی زیات ولیدنو پوښتنه ئې ترینه وکړه چه ولی تاسو ټکړه ماته
کړې نه ده؟ بی بی ورته جواب وکړ چه ته هم عجیبه خبری کوې، زمو نږ
دزړونو نه خدای خبر ؤ مړۍ مو چیر ته د مرۍ نه ښکته کېده او لا د هم
خسوزی خولې ته وروړی نه دی، منشی صاحب چه ځان
پیما نه کړ نو خپله قصه ئې شروع کړه چه زه نن جنت نه راغلی یم
او سبا به بیا ورزم، دلو یو خلقو اشنایی ډېره سود منه ده که خدای ته

منظوره وی نو په لږه مود ه کی به زمونږ ورځی و ګرځی خوما په زړه کی
دا فکر و کړ چه که څه قربانی وی ، نو هلته به زما مدعا سر ته رسی
بی بی ترینه په تعجب سره پوښتنه و کړ ه چه یعنی څه ؟ منشی صاحب
یو یخ او سپلی دخولی نه را وویست اووې ویل چه ستا دغوږو نه به دسرو
زرو داوالی و کاږ مه او خرڅی به ئې کړم په هغې به یوه ترکی ټوپی او
پڼې واخلم ، کوټ واسکټ او دوه درې جوړه جامې به جوړومه ، زه تا ته په
یقین سره دا وایمه چه په دې سوداګری کی د نقصان احتمال نه شته .
ښځی اګرچه په کالی پتری ډیری مینی وی لیکن نیکو کاری ښځی دخپل
خاوند په فرمان خپل سرونه قربانوی ، بله ورځ سحرو ختی بی بی صاحبی
دغوږونو والی وویستلی او دمنشی صاحب مخ کی ئی کښېښودلی ، دښا یسته
ښځی په بربنډو غوږو نو دمنشی صاحب زړه څه قدر نرم شو او افسوس ئی
هم و کړ لیکن د نواب صاحب د همنشینی جذبه دومره غالبه
وه چه دا افسوس څه زیات ساعت پاتی نه شو ، دغه ورځ کارخانې ته
هم لاړ نه شو او په یوزر ګرباندی ئی په نیم نیمکوری قیمت والی خرڅی کړی
کمیس ، پرتوګ ، کوټ ، واسکټ ئی په درزی باندی جوړ کړل ، یوه ترکی ټوپی
او نوې پڼې ئې هم واخستلی اګرچه دجنټلمینی دپاره کالر ، نکټایی ، کهړی او
عینک هم ضروری وو . لیکن دپنځو روپو نه سوا ور سره بله سره پیسه نه و دا و په پنځه
روپی دا ټول خواهشات نه پوره کېدل ما زدیګر ئی کوټ او واسکټ او جامی
واغوستلی ، ټوپی په سر او پڼې ئی په پښو کړی چه آئینه ئی مخ ته و نیوله نو ډېر
ساعت خوئې خپل ځان نه پېژانده چه بی بی ورته و کتل نو زړه ئی باغ باړی شو
او دخپلو غوږونو په بوړی کېدلو ئی هیڅ غم و نکړ ، غرض دا چه منشی صاحب په ډېر

کروفر کی بهرسرك ته راووت پڼوئی په پښو کی چغار شروع کړ چه مونږ خو به دځمکی نه څوفټه اوچتی ځو، منشی صاحب پیاده روی خپل توهین گاڼه اخر داچه داجنټلمین ددرزی لاس جوړ سړی چېر ته په یو ټانکه کی د نواب صاحب بنگلی ته روان شو.

منشی صاحب په دغه ورځ ډوډۍ په کور کی خوړلی وه او د گېدې څه غم در دورسره نه ؤ دنواب صاحب بنگلې ته چه ورسید، نو کوزشه بدنصیبی داراغله چه نواب صاحب لادسیل نه واپس شوې نه و، نو کرانو دننه پرې نه ښوداو په دروازه کی ئی دلرگی په یو بېخ باندی دتشریف توکرۍ کیښوده، تقریباً اته بجې نواب صاحب هم راغی او دمنشی په دی شکایت چه (نن خوزمانه دڅو کیدارۍ خدمت واخستلی شو) نو کرانو ته ئی قهر دوك وکړ، څه ساعت پس بیا مجلس گرم شو، ترناوخته پوری ئی ورته مرغۍ والوزولې، تقریباً یوولس بجې ئی ترېنه رخصت واخست، او کور ته راغی خیرنې کډی ورته هر کلی ورکړاوده دنواب صاحب دملاقات حال بیان کړاواوده شو، خلاصه داچه منشی ورو ورو دنواب صاحب بې تکلفه دوست شواو په دوه دری میاشتی کی ئی خو دو مره جوړ تعلقات پیدا شول چه دماښ هواخورۍ، دپاره به ئې ضرور منشی صاحب ځان سره موټر کی بوتللو او که چېری به دمنشی صاحب دکاله سره تېرېده نو نو کر یاد رایو ربه ئې ورولېږ لو که منشی صاحب به ډوډۍ ته ناست ؤ، نو یوه نمړۍ په لاس بله په خوله کی به په دودوراوزغاست، که به په چرچو بۍ کی ؤ نو حاجت ضروری به ئې هلته (فل سټاپ) کړاو په ډبل به بهرته راووت چه یو ځل به موټر ته وخوت نو بیا به ئې کولمی دلوږی چونگېدلی، لیکن دنواب صاحب ملگرتیا به ئې ترهغه وخته پرېښودی نه شوه څو پوری چه به نوابصاحب هغه بی رنگه واپس نه کړ.

تقریظ:

روح اعتدال

په دې لنډوو رځو کښې په دې نامه کتاب د کابل مجلې و اداري ته د تربیه افکار دلوی مدیریت له خوا راو رسېد چه په (۱۹۹) پاڼو کښې چاپ شوی دی. دا کتاب دافراط او تفریط ضررونه او داعتدال فائده ثابتوی او اعتدال دانسان په قدرت او توان کښې ښئی. ددې کتاب مؤلف «شارل وانیر» او مترجم ښاغلی سید احمد شاه هاشمی دی چه د تربیه افکار دلوی مدیر ښاغلی شاه محمد «رشاد» په توجه او د ښاغلی م. حسن بارق په اهتمام ئې چاپ وسرته رسېدلی دی. ددې کتاب مطالعه د هرچا دپاره گټوره ده په زیاته بیا اوس چه ډېر، وگړی دخود اعتمادی څخه بی برخی ښکاری. د کابل مجله و ټولو هغو ښاغلو ته چه ددې کتاب په تألیف او چاپ کښې ئې زیار ایستلی دی دلو یه خدایه په همدې ډول لار کښې زیات توفیق غواړی او ښاغلو لوستونکو ته توصیه کوی چه له دې مفید کتاب څخه استفاده وکړی

(اداره)

د کابل مجلی خپرونې

۱ : لوړ خیالونه او ژور فکرونه د گل پاچا الفت اثر د هر جلد بیه (۷) افغانۍ .

۲ : د اور لمبې د شاغلی خیبری اثر هرجلد په (۵) افغانۍ .

دواړه کتابونه سبز کال تازه چاپ شوی دی او د پښتو ټولنی په پلورنځی کښی موجود دی.

کال

دیوه بیه

په کابل کی	(٤٠)افغانۍ
په دننه هیواد کی	(٤٤)افغانۍ
زده کوونکوته په نیمه بیه	
په هند کی	(۱۲) کلداري
په باند نیوهیوادو کی	(۳) ډالره

دا بیه د پښتو ټولنی د موسسې د جاری شمېر په (۷۱۸۷) لمبر د افغانستان بانك

هروخت اخستلای شی

دولتی مطبعه